# د یوشع کتاب

## یوشع ته د خدای له خوا د کنعان د فتحې امر

١ (١) د موسیٰ د مړینې څخه وروسته څښتن د موسیٰ د مرستیال د نون زوی یوشع
سره خبرې وکړې: (٢) <زما خدمتګار موسیٰ مړ شوی دی. اوس ته د ټول قوم سره تیار
شه او د اردن له سیند څخه هغې ځمکې ته واوړه چې زه یې هغوی یعنې اسراییلیانو ته
ورکوم. (٣) لکه څنګه چې ما له موسیٰ سره وعده کړې وه، په هر ځای چې تاسو قدم
کېږدئ هغه به تاسو ته درکړم. (٤) ستاسو سیمه به د جنوبي دښتې څخه د لبنان تر غرونو
پورې او د فرات د لوی سیند څخه یعنې د حیتیانو د ټول هېواد څخه په لوېدیځ کې د
مدیترانې تر بحیرې پورې ورسیږي. (٥) ای یوشع، ترڅو چې ته ژوندی یې هیڅوک به
ونه شي کولی چې ماتې درته درکړي. زه به ستا سره مل یم لکه څنګه چې د موسیٰ سره
وم. زه به همېشه ستا سره مل یم او تا به هیڅکله پرېنږدم. (٦) نو قوي او زړور اوسه،
ځکه څنګه چې دغه قوم هغه ځمکه چې د هغو د نیکونو سره مې وعده کړې ده نیسي، نو
ته به د هغوی مشري کوې. (٧) نو قوي او ډېر زړور اوسه. په غور سره د هغه ټول
شریعت څخه چې زما خدمتګار موسیٰ درته درکړی دی اطاعت وکړه. د هغه هیڅ کومه
برخه له نظره ونه غورزوې نو ته به په هر ځای کې بریالی اوسې. (٨) ستاسو په هغه
عبادت کې چې په ګډه سره کیږي باید همېشه د تورات کتاب په لوړ اواز سره ولولې. هغه
شپه او ورځ مطالعه کړه او هرڅه چې په هغه کې لیکل شوي دي په غور سره د هغو څخه
اطاعت وکړه. نو بیا به ته نېکمرغه او بریالی اوسې. (٩) دا په یاد ساته چې ما تاته حکم
کړی دی چې قوي او زړور اوسه. مه وېرېږه او جرأت له لاسه مه ورکوه. زه ستا څښتن
خدای یم او هر چېرې چې ځې زه به ستا سره مل یم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## قوم ته د یوشع حکمونه

۱۰ نو یوشع د اسراییلو مشرانو ته حکم وکړ: ۱۱ <په کمپ کې وګرځئ او خلکو ته
ووایئ: یو څه خواړه تیار کړئ. ځکه چې تاسو به په درې ورځو کې د اردن له سیند څخه
پورې وځئ او هغه ځمکه به ونیسئ چې زمونږ څښتن خدای یې درکوي.>

۱۲ یوشع د روبین، جاد او د منسي نیمې قبیلې ته وویل: ۱۳ <په یاد ساتئ چې د
څښتن خدمتګار موسیٰ تاسو ته څنګه ویلي وو چې زمونږ څښتن خدای به تاسو ته دا
ځمکه چې د اردن د سیند په ختیځه غاړه پرته ده درکړي چې هلته په سوله کې ژوند
وکړئ. ۱۴ ستاسو ښځې، ماشومان او څاروي به دلته پاتې شي، مګر ستاسو هغه نفر چې
په وسلو باندې سمبال دي باید د نورو اسراییلیانو څخه مخکې د سیند څخه تېر شي چې د
هغوی سره مرسته وکړي ۱۵ ترڅو هغوی هغه ځمکه ونیسي کومه چې د اردن د سیند په
لوېدیځ کې پرته ده او څښتن هغوی ته ورکړې ده. کله چې هغه د اسراییلو ټولو قبیلو ته
ارامي راوستله، نو بیا تاسو کولی شئ چې بېرته راشئ او په خپله خاوره کې واوسېږئ کومه
چې د اردن د سیند په ختیځ کې پرته ده او موسیٰ تاسو ته درکړې ده.>

۱۶ هغوی یوشع ته په ځواب کې وویل: <څه چې تا مونږ ته ویلي دي هغه ټول به سرته
ورسوو او هرچېرته چې مونږ لېږې هلته به ځو. ۱۷ لکه څنګه چې مونږ همېشه د موسیٰ
اطاعت کاوه، هماغه شان به ستا اطاعت کوو. زمونږ څښتن خدای دې ستا سره مل وي لکه
څنګه چې د موسیٰ سره مل ؤ. ۱۸ هرڅوک چې ستا په مقابل کې سرکشي وکړي یا ستا
د کوم یو حکم څخه سرغړونه وکړي هغه به وژل کیږي. نو قوي او زړور اوسه!>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اریحا ته د یوشع له خوا د جاسوسانو لیږل

٢ ﴿١﴾ بیا د نون زوی یوشع د شطیم له کمپ څخه په پټه دوه جاسوسان د دې حکم سره
ولیږل چې لاړ شي او د کنعان د خاورې او په خاصه توګه د اریحا د ښار وضع وڅیړي. کله
چې هغوی ښار ته ورسېدل، نو هغوی لاړل چې د راحاب په نوم د یوې فاحشې په کور کې
شپه تېره کړي. ﴿٢﴾ د اریحا پادشاه خبر شو چې نن شپه ځینې اسراییلیان راغلي دي چې
په دې خاوره کې جاسوسي وکړي، ﴿٣﴾ نو هغه راحاب ته دا پیغام ورولیږه: <هغه خلک
چې ستا کور ته راغلي دي غواړي چې د ټولې خاورې جاسوسي وکړي! هغوی بیرون
راوباسه!>

﴿٤﴾-﴿٦﴾ هغې په ځواب کې وویل: <ځینې خلک زما کور ته راغلي وو، مګر زه نه
پوهېږم چې هغوی د کوم ځای وو. هغوی د لمرپرېواته په وخت کې مخکې له دې چې د
ښار دروازه وتړل شي لاړل. زه پوه نشوم چې هغوی چېرته تلل، خو که چېرې تاسو ژر
ورپسې ورشئ نو کولی شئ چې هغوی ونیسئ.> (راحاب هغه دوه جاسوسان د بام سرته
بیولي وو او هغوی یې د کتان د بوټو د ډنډرو لاندې چې هلته یې ایښې وو پټ کړي وو.)
﴿٧﴾ د پادشاه نفر د ښار څخه لاړل او بیا دروازه بنده شوه. هغوی د اسراییلي جاسوسانو د
لټولو په خاطر تر هغه ځای پورې لاړل په کوم ځای کې چې خلک به د اردن له سیند څخه
تېرېدل.

﴿٨﴾ د شپې له خوا مخکې له دې چې جاسوسان ویده شي، راحاب بام ته ورروختله ﴿٩﴾
او هغوی ته یې وویل: <زه پوهېږم چې څښتن دا ځمکه تاسو ته درکړې ده او هرڅوک په
دې هېواد کې ستاسو څخه سخت وېرېږي. ﴿١٠﴾ مونږ اورېدلي دي کله چې تاسو له مصر
څخه راوتلئ نو څښتن څنګه ستاسو په مخکې د سرې بحیرې اوبه وچې کړې. او مونږ خبر
یو چې تاسو څنګه د اموریانو دوه پادشاهان یعنې سیحون او عوج د اردن د سیند په ختیځ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې ووژل. (۱۱) ښنګه چې مونږ له دې ښخه خبر شو، نو ووېرېدو او خپل جرأت مو له لاسه ورکړ. ځکه چې ستاسو ښښتن خدای د ځمکې او اسمان خدای دی. (۱۲) نو اوس ماته د هغه په نوم قسم وخورئ چې تاسو به زما د کورنی سره داسې له مهربانی ښخه ډکه رویه کوئ، لکه ښنګه چې ما ستاسو سره کړې ده او ماته یوه داسې نښه راکړئ چې په تاسو باندې اعتبار وکړم. (۱۳) زما سره وعده وکړئ چې زما مور او پلار، زما ورونه او خوېندې او د هغوی ټولې کورنی به ژغورئ! مونږ مه پرېږدئ چې مړه شو.> (۱۴) هغو سړيو هغې ته ووېل: <که چېرې مونږ په خپلې خبرې باندې عمل ونه کړ نو خدای دې زمونږ ژوند واخلي! که چېرې ته چاته ونه وايې چې مونږ ښه کوو، مونږ ستا سره وعده کوو کله چې ښښتن مونږ ته دا ځمکه راکړي مونږ به ستا سره ښه رويه وکړو.> (۱۵) نو راحاب هغوی په يوې رسۍ باندې د کړکۍ په لار ښکته کړل، ځکه چې په کوم کور کې چې هغه اوسېدله هغه د ښار په دېوال باندې ؤ. (۱۶) راحاب هغوی ته ووېل: <غونډيو ته لاړ شئ، که نه، نو د پادشاه نفر به تاسو راپيدا کړي. درې ورځې هلته ځانونه پټ کړئ ترڅو هغوی بېرته راشي، وروسته بيا کولی شئ چې په خپله لاره باندې لاړ شئ.>

(۱۷) سړيو هغې ته ووېل: <په کومه وعده باندې چې تا مونږ مجبور کړو په هغې باندې به عمل کوو. (۱۸) هغه څه چې ته يې بايد وکړې دا دي: کله چې مونږ ستاسو په خاوره باندې حمله وکړه، دا سور مزی په هغې کړکۍ باندې وتړه چې تا ورباندې راښکته کړو. خپل پلار، مور، ورونه او د خپل پلار ټوله کورنی په خپل کور کې سره راغونډ کړه. (۱۹) که چېرې څوک ستا د کور ښخه ووزي، د هغه خون به د هغه په خپله غاړه وي او مسئوليت به يې زمونږ په غاړه نه وي. مګر که چېرې ستا په کور کې چاته زيان ورسيږي، بيا به مسئوليت زمونږ په غاړه وي. (۲۰) مګر که چېرې چاته ووايې چې مونږ څه کوو، نو بيا به مونږ مجبور نه يو په هغې وعدې باندې ټينګ پاتې شو کومه چې تا په مونږ باندې کړې وه.> (۲۱) راحاب دا خبره ومنله او هغوی يې رخصت کړل. کله چې هغوی لاړل، هغې په کړکۍ باندې سور مزی وتړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ هغه جاسوسان غونډيو ته لاړل او پټ شول. د پادشاه نفرو درې ورځې د هغې سيمې
ټولې لارې ولټولې، خو هغوی يې پيدا نکړل، نو هغوی بېرته اريحا ته راستانه شول. ٢٣
بيا هغه دوه جاسوسان د غونډيو څخه راکوز شول، د اردن له سيند څخه تېر شول او بېرته
يوشع ته ورغلل. هرڅه چې په هغوی باندې تېر شوي وو هغه ته يې بيان کړل. ٢٤ هغوی
يوشع ته وويل: <مونږ باور لرو چې څښتن مونږ ته هغه ټول هېواد راکړی دی. د هغه ځای
ټول خلک زمونږ څخه سخت ويريږي.>

## د اردن د سيند څخه د اسراييلو د قوم تېرېدل

٣ ١ سبا سهار يوشع او د اسراييلو ټول قوم وختې پاڅېدل، د هغه کمپ څخه چې په
شطيم کې ؤ روان شول او د اردن سيند ته لاړل. هلته يې خيمې ودرولې او د دې انتظار يې
کاوه چې له هغه ځای څخه پورې وزي. ٢ درې ورځې وروسته د قوم مشران په کمپ
کې وګرځېدل ٣ او خلکو ته يې وويل: <کله چې تاسو زمونږ د څښتن خدای د لوظ
صندوق چې کاهنان يې انتقالوي ووينئ، نو د خپلو ځايونو څخه روان شئ او په هغه پسې
لاړ شئ. ٤ بيا به تاسو پوه شئ چې په کومه لاره باندې لاړ شئ ځکه چې مخکې تاسو
په دې لار باندې نه يئ تللي. مګر د لوظ صندوق ته به نژدې نه ورځئ، د هغه څخه د نهه
سوه مترو په فاصله شاته اوسئ.>

٥ يوشع قوم ته وويل: <ځانونه پاک کړئ، ځکه چې څښتن به سبا ستاسو په منځ کې
لويه معجزه وښايي.> ٦ بيا هغه کاهنانو ته وويل چې د لوظ صندوق واخلي او د هغه
سره دې د قوم په مخ کې ځي. نو څه چې هغه وويل هغوی هماغسې وکړل.

٧ څښتن يوشع ته وويل: <زه به سر له نن څخه د اسراييلو قوم دې ته مجبور کړم چې
د يو لوی سړي په توګه ستا احترام وکړي او هغوی به په دې پوه شي چې زه ستا سره مل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يم لکه څنګه چې د موسیٰ سره مل وم. ۸ هغو کاهنانو ته چې د لوظ صندوق وړي
ووایه کله چې دوی د اردن سیند ته ورسیږي، باید سیند ته ننوزي او د سیند د غاړې سره
نژدې دې ودرېږي.>

۹ بیا یوشع اسراییلیانو ته وویل: <دلته راشئ او د خپل څښتن خدای خبرو ته غوږ
ونیسئ. ۱۰ نن به تاسو پوه شئ چې ژوندی خدای ستاسو سره مل دی. هغه به بېشکه
کنعانیان، حیتیان، حویان، فرزیان، جرجاشیان، اموریان او یبوسیان ستاسو له مخې څخه
لېرې کړي. ۱۱ ګورئ، د ټولې دنیا د څښتن د لوظ صندوق به د اردن د سیند څخه په
تېرېدلو کې ستاسو لارښوونه کوي.

۱۲ نو د اسراییلو د قبیلو څخه دولس نفره وټاکئ یعني د هرې قبیلې څخه یو یو نفر. ۱۳
کله چې کاهنان چې د ټولې دنیا د څښتن د لوظ صندوق انتقالوي خپلې پښې په اوبو کې
کېږدي، د اردن د سیند اوبه به ودرېږي او کومې اوبه چې لاندې راځي هغه به په یو ځای
کې سره راغونډې شي.>

۱۴-۱۵ دا د لو کولو وخت ؤ او اوبه د سیند له غاړو څخه پورته شوې وې. کله چې
خلک د کمپ څخه روان شول چې د اردن له سیند څخه تېر شي، نو هغه کاهنان چې د
لوظ صندوق یې انتقالاوه د هغوی په مخ کې روان شول. څنګه چې کاهنانو په سیند کې قدم
کېښود، ۱۶ اوبه ودرېدې او په یوې لېرې فاصلې کې په یو ښار کې چې آدم بلل کېده او
د زرتان د ښار په څنګ کې ؤ یوځای غونډې شوې او کومې اوبه چې لاندې د ارام دریاب
ته رابهېدې، هغه په بشپړه توګه بېلې شوې. نو قوم اریحا ته مخامخ پورې وت. ۱۷ په
داسې حال کې چې قوم په وچه ځمکه باندې تېرېده، هغه کاهنان چې د څښتن د لوظ
صندوق یې انتقالاوه تر هغه وخته پورې د اردن د سیند په منځ کې په وچه ځمکه باندې
ولاړ وو ترڅو ټول قوم بلې غاړې ته ورپورې وت.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**۴** ١ کله چې ټول قوم د اردن له سیند څخه تېر شو، څښتن یوشع ته وویل: ٢ <د
اسراییلو د قوم څخه دولس تنه وټاکه یعنې د هرې قبیلې څخه یو یو نفر ٣ او هغوی ته
حکم وکړه چې د اردن د سیند له منځ څخه یعنې له هماغه ځای څخه چېرته چې کاهنان
ولاړ وو دولس تیږې راواخلي. هغوی ته ووایه چې دا تیږې له ځانه سره یوسي او په هغه
ځای کې یې کېږدي چېرته چې تاسو نن شپه خېمې ودروئ.>

۴ نو یوشع هغه دولس نفره کوم چې هغه غوره کړي وو، راوغوښتل ٥ او هغوی ته
یې وویل: <د اردن د سیند منځ ته هغه ځای ته چې د لوظ صندوق په کې دی لاړ شئ.
تاسو هر یو د اسراییلو د قبیلو د شمېر په مطابق یوه یوه تیږه واخلئ او په خپلو اوږو باندې
یې کېږدئ. ٦ دا تیږې به خلکو ته هغه کارونه وریه یادوي کوم چې څښتن کړي دي. په
راتلونکې کې کله چې ستاسو اولادونه درڅخه پوښتنه وکړي چې دا تیږې ستاسو دپاره څه
معنیٰ لري؟ ٧ تاسو به هغوی ته وایئ کله چې د څښتن د لوظ صندوق د اردن د سیند
څخه تېرېده د سیند اوبه ودرېدلې. دا تیږې به همېشه د اسراییلو قوم ته دا خبره وریه یادوي
چې دلته څه پېښ شول.>

٨ هغو نفرو د یوشع حکمونه په ځای کړل. څنګه چې څښتن په یوشع باندې امر کړی
ؤ، هغوی د اردن د سیند له منځ څخه دولس تیږې راواخیستې یعنې د اسراییلو د هرې قبیلې
دپاره یوه تیږه وه. هغوی دا تیږې د خېمو د ودرولو ځای ته یوړې او هلته یې کېښودې.
٩ یوشع د اردن د سیند په منځ کې چېرته چې د لوظ د صندوق وړونکي کاهنان ولاړ
وو هم دولس تیږې ودرولې. (هغه تیږې تر اوسه پورې هلته دي.) ١٠ کاهنان تر هغه
وخته پورې د اردن د سیند په منځ کې ولاړ پاتې شول ترڅو چې قوم هغه ټول کارونه سرته
ورسول چې څښتن په یوشع باندې د هغو حکم کړی ؤ. دا هغه څه وو چې موسیٰ هم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکې یوشع ته حکم کړی ؤ.

نو قوم په بیړه د اردن له سیند څخه تېر شو. ⑪ کله چې هغوی ټول بلې غاړې ته پورې
وتل، کاهنان د څښتن د لوظ د صندوق سره د قوم په مخ کې پورې وتل. ⑫ د روبین او
جاد د قبیلو او د منسي د نیمې قبیلې نفر د جګړې دپاره تیار وو او لکه څنګه چې موسیٰ
هغوی ته ویلي وو، هغوی د پاتې قوم په مخ کې پورې وتل. ⑬ تقریباً څلوېښت زره نفر
د جګړې دپاره تیار وو او هغوی د څښتن په حضور کې هغه ډاګ ته چې اریحا ته نژدې ؤ،
ورتېر شول. ⑭ په هغه ورځ څښتن یوشع د ټولو اسراییلو په نظر کې سرلوړی کړ. ترڅو
پورې چې هغه ژوندی ؤ هغوی د هغه احترام کاوه لکه څنګه چې هغوی د موسیٰ احترام
کاوه.

⑮ بیا څښتن یوشع ته وویل ⑯ چې په هغو کاهنانو باندې چې د لوظ صندوق
انتقالوي امر وکړي چې د اردن له سیند څخه راووزي. ⑰ یوشع هماغسې وکړل ⑱ او
کله چې کاهنان د سیند غاړې ته ورسېدل نو سمدلاسه د سیند اوبو بېرته په بهېدلو شروع
وکړه او د سیلاب په شان بیا د سیند له غاړو څخه پورته شولې.

⑲ د اولې میاشتې په لسمه ورځ قوم د اردن له سیند څخه تېر شو او په جلجال کې یې
چې د اریحا ختیځې خواته پروت ؤ خېمې ودرولې. ⑳ یوشع په جلجال کې هغه دولس
تیږې ودرولې کومې چې هغوی د اردن له سیند څخه راویستلې وې. ㉑ هغه د اسراییلو
خلکو ته وویل: ”په راتلونکې کې کله چې ستاسو اولادونه ستاسو څخه پوښتنه وکړي چې
دا تیږې څه معنیٰ لري؟ ㉒ تاسو به هغوی ته د هغه وخت په باره کې ووایئ چې
اسراییلیان د اردن په سیند کې په وچه ځمکه باندې پورې وتل. ㉓ هغوی ته ووایئ چې
زموږ څښتن خدای زموږ په خاطر د اردن د سیند اوبه وچې کړې ترڅو موږ ورڅخه تېر
شو، لکه څنګه چې هغه زموږ دپاره د سرې بحیرې اوبه وچې کړې وې. ㉔ هغه دا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کارونه ځکه وکړل چې د ځمکې په مخ ټول قومونه پوه شي چې د څښتن قدرت څومره
زيات دی او تاسو به د تل دپاره د خپل څښتن خدای څخه وېره کوئ.>

۵ ١ د اموريانو ټولو پادشاهانو چې د اردن د سيند په لوېديځ کې وو او د کنعانيانو ټولو
پادشاهانو چې د مديترانې د بحيرې په غاړه وو واورېدل چې څښتن د اردن سيند تر هغه
وخته پورې وچ کړی ؤ ترڅو د اسراييلو قوم له هغه څخه تېر شو. هغوی وويرېدل او نور
يې دا جرئت نه درلود چې د اسراييلو سره مخامخ شي.

## په جلجال کې سنتګيري

٢ په هغه وخت کې څښتن يوشع ته وويل: <د بکرۍ له تېرې څخه چړې جوړې کړه او
پاتې اسراييليان سنت کړه.> ٣ نو څنګه چې څښتن حکم کړی ؤ يوشع هماغسې وکړل
او اسراييليان يې په هغه ځای کې سنت کړل چې د سنت ګيرۍ د غونډۍ په نوم ياد شو.
٤ نو په دې خاطر هغه داسې وکړل. هغه ټول نارينه يعنې ټول جنګي نفر چې د مصر
څخه راوتلي وو د سفر په دوران کې په دښته کې مړه شول. ٥ هغه خلک چې د مصر
څخه راوتلي وو هغوی ټول سنت شوي وو، مګر هغه ټول خلک چې د سفر په دوران کې
په دښته کې زېږېدلي وو هغوی سنت شوي نه وو. ٦ اسراييليانو څلوېښت کاله په دښته
کې سفر وکړ، ترڅو ټول خلک يعنې د قوم ټول جنګي نفر چې د مصر څخه راووتل مړه
شول ځکه چې د څښتن د امر څخه يې سرغړونه کړې وه. لکه څنګه چې څښتن قسم
خوړلی ؤ هغوی ته اجازه ورنه کړای شوه چې هغه غني او حاصلخېزه ځمکه ووينې چې د
هغو د نيکونو سره يې وعده کړې وه. ٧ د دغو خلکو زامن هيڅکله سنت شوي نه وو او
دا هغه نوی نسل ؤ کوم چې يوشع سنت کړ.

٨ کله چې د اسراييلو ټول نارينه سنت شول، هغوی تر هغې پورې په کمپ کې پاتې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول ترخو چې زخمونه يې روغ شول. ۹ خښتن يوشع ته وويل: <دا زما د قوم دپاره د
شرم خبره وه چې په مصر کې دې غلامان وي، خو ما نن هغه رسوايي لېرې کړه.> نو
اسراييليانو دغه ځای د جلجال په نوم ياد کړ او تر اوسه پورې په دې نوم ياديږي.

۱۰ کله چې اسراييليانو په جلجال کې اريحا ته نژدې په ډاګ کې خېمې ودرولې، هغوی د
مياشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام د فسحې اختر ولمانځه. ۱۱ راتلونکې ورځ اول
ځل ؤ چې هغوی د کنعان د محصولاتو څخه خواړه وخوړل يعني وريتې شوې غلې دانې او
فطيره ډوډۍ. ۱۲ له هماغې ورځې څخه د خدای له خوا د من رالېږل بند شول او د
اسراييلو دپاره نور من نه پيدا کېده. له هماغه وخت څخه هغوی هغه څه خوړل چې په
کنعان کې پيدا کېدل.

## د اسراييلو له خوا د اريحا نيول

۱۳ يو وخت يوشع اريحا ته نژدې ؤ، چې ناڅاپه يې يو سړی وليد چې د هغه مخې ته
ولاړ ؤ او په لاس کې يې توره وه. يوشع هغه ته ورغی او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: <ته
زمونږ په خوا يې که زمونږ د دښمنانو په خوا؟>

۱۴ هغه په ځواب کې وويل: <هيڅ يو نه، زه اوس د خښتن د لښکر د قوماندان په توګه
راغلی يم.> بيا يوشع په ځمکه باندې پړمخې پرېوت او ويې ويل: <صاحبه، زه ستاسو
خدمتګار يم. زما څخه څه غواړئ چې ويې کړم؟>

۱۵ د خښتن د لښکر قوماندان هغه ته وويل: <خپلې څپلۍ وباسه ځکه چې ته په
سپېڅلې ځمکې باندې ولاړ يې.> او يوشع همداسې وکړل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اریحا سقوط

۶ (۱) د اریحا خلکو د اسراییلیانو له وېرې د ښار دروازې کلکې وتړلې او د هغه ساتنه
کېده. هیڅوک نه شو کولی چې ښار ته ننوزي یا د ښار څخه ووزي. (۲) څښتن یوشع ته
وویل: <زه اریحا د هغه د پادشاه او د هغه د زړورو عسکرو سره تاته تسلیموم. (۳) ته او
ستا عسکر باید شپږ ورځې د ورځې یو ځل د ښار څخه ګردچاپېره وګرځئ. (۴) اووه
کاهنان چې هر یو سره سرنی وي هغوی دې د لوظ د صندوق په مخ کې روان شي. په
اوومه ورځ په داسې حال کې چې کاهنان به خپل سرني ووهي، تاسو ټول اووه ځله د ښار
څخه ګردچاپېره وګرځئ. (۵) بیا دې هغوی په اوږد اواز سره سرني ووهي. څنګه چې
تاسو هغه واورئ، ټول خلک دې په لوړ اواز چیغې ووهي، نو د ښار دېوالونه به راپرېوزي.
بیا به ټول لښکر مخامخ ښار ته ننوزي.>

(۶) یوشع کاهنان راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: <د لوظ صندوق واخلئ او اووه تنه د
سرنیو سره د هغه په مخ کې حرکت وکړئ.> (۷) بیا هغه قوم ته حکم وکړ: <د ښار څخه
ګردچاپېره وګرځئ او وسله وال ساتونکي دې د څښتن د لوظ د صندوق په مخ کې روان
وي.>

(۸) څنګه چې یوشع قوم ته وینا وکړه، هغه اووه کاهنان چې سرني یې وړل هغوی مخکې
روان شول، خپل سرني یې وهل او د څښتن د لوظ صندوق د هغوی پسې ؤ. (۹) وسله
وال ساتونکي د هغو کاهنانو په مخ کې چې سرني یې وهل روان وو او شاتنی ساتونکي دډله
د صندوق پسې روانه وه. په دغه ټول وخت کې سرني وهل کېدل. (۱۰) مګر یوشع په قوم
باندې امر وکړ: <چیغې مه وهئ، ترڅو پورې چې زه تاسو ته حکم ونه کړم تاسو به هیڅ نه
وایئ.> (۱۱) نو یوشع وویل چې د څښتن د لوظ صندوق دې یو ځل د ښار څخه
ګردچاپېره وګرځوي. بیا ټول خلک بېرته کمپ ته راغلل او هلته یې شپه تېره کړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ يوشع سهار وختي پاڅېده او کاهنانو او خپلو نفرو ته يې هماغه حکم وکړ. نو هغو
کاهنانو چې د لوظ د صندوق د انتقالولو حکم ورته شوی ؤ هغه په خپلو اوږو باندې کېښود.
۱۳ بيا هغوی لکه د تېرې ورځې په شان په هماغه ترتيب سره د ښار ګردچاپېره
وګرځېدل. اول هغه ساتونکي چې مخکې روان وو، بيا هغه کاهنان چې د ګرځېدلو په حال
کې به يې هر وخت سرني وهل، وروسته هغه کاهنان چې د څښتن د لوظ صندوق يې
انتقالاوه او په آخره کې شاتنی ساتونکې ډله. ۱۴ نو په دوهمه ورځ هغوی بيا يو ځل د
ښار څخه ګردچاپېره وګرځېدل او وروسته کمپ ته راستانه شول. هغوی شپږ ورځې دا کار
وکړ.

۱۵ په اوومه ورځ هغوی د سباوون په وخت پاڅېدل او په همدې ډول اووه ځلې د ښار
څخه ګردچاپېره وګرځېدل. دا يوازينی ورځ وه چې هغوی اووه ځلې داسې وکړل. ۱۶ په
اووم ځل کله چې کاهنانو سرني ووهل، يوشع په قوم باندې امر وکړ: <چيغې ووهئ! ځکه
چې څښتن دا ښار تاسو ته درکړی دی! ۱۷ دا ښار او هرڅه چې په کې دي هغه بايد
څښتن ته د نذرانې په توګه بېخي له منځه يوړل شي. يوازې راحاب فاحشه او د هغې
کورنی دې ژوندي پاتې شي ځکه چې هغې زمونږ جاسوسان پټ کړي وو. ۱۸ خو تاسو
بايد هيڅ شی کوم چې له منځه وړل کيږي وانخلئ، که تاسو يې واخلئ، نو د اسراييلو په
کمپ باندې به مصيبت او تباهي راولئ. ۱۹ ټول سپين زر او سره زر او د برنجو او اوسپنې
شيان خاص د څښتن دي او د هغه په خزانه کې بايد کېښودل شي.>

۲۰ نو کاهنانو سرني ووهل. څنګه چې قوم د سرنيو غږ واورېده، هغوی په لوړ اواز چيغې
ووهلې او ناڅاپه د اريحا د ښار دېوالونه راولوېدل. نو بيا ټول لښکر نيغ په نيغه غونډی ته
وروخوت. هغوی ښار ته ننوتل او هغه يې ونيوه. ۲۱ هغوی په خپلو تورو باندې په ښار
کې ټول خلک يعنې سړي، ښځې، ځوان او زاړه ټول ووژل. همدارنګه هغوی غوايان، پسونه
او خره هم ووژل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ نو بیا یوشع هغو دوو نفرو ته چې جاسوسي یې کړې وه وویل: <تاسو د هغې فاحشې
کور ته ورننوزئ او لکه څنګه چې مو د هغې سره وعده کړې وه، هغه او د هغې کورنۍ
راوباسئ.> ۲۳ نو هغوی لاړل او راحاب یې د هغې د پلار او مور، ورونو او د هغې د
ټولې کورنۍ سره راوویستل. هغوی د راحاب ټوله کورنۍ یو خوندي ځای ته چې د
اسراییلو کمپ ته نژدې ؤ یوړله. ۲۴ بیا د اسراییلو لښکرو ټول ښار د هرڅه سره
وسوزاوه، مګر هغوی سپین زر او سره زر او د برنجو او اوسپنې شیان د څښتن د کور په
خزانه کې کېښودل. ۲۵ مګر یوشع د راحاب فاحشې او د هغې د کورنۍ او ټولو خپلوانو
ژوند وژغوره، ځکه چې هغې هغه جاسوسان پټ کړي وو چې یوشع اریحا ته لېږلي وو. (د
هغې اولاده تر نن ورځې پورې په اسراییلو کې اوسیږي.)

۲۶ کله چې اریحا ورانه شوه، نو یوشع په کلکه خبرداری ورکړ: <هرڅوک چې د اریحا
د ښار د بیا ودانولو هڅه وکړي، څښتن به په هغه باندې لعنت ووايي:

هرڅوک چې د هغه تهداب کېږدي خپل مشر زوی به له لاسه ورکړي.

هرڅوک چې د هغه دروازې جوړې کړي خپل کشر زوی به له لاسه ورکړي.>

۲۷ نو څښتن د یوشع سره مل ؤ او د هغه شهرت په ټول هېواد کې خپور شو.

## د عخان ګناه

۷ ۱ څښتن اسراییلو ته حکم کړی ؤ چې د اریحا څخه هیڅ داسې شی چې باید له
منځه وړل شوی وای وانه خیستل شي، خو د هغه څخه سرغړونه وشوه. یو سړی چې
عخان نومېده د دې حکم څخه یې سرغړونه وکړه نو څښتن په اسراییلو باندې سخت په قهر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. (عخان د کرمي زوی، د زبدي لمسی او د زارح د طايفې څخه ؤ، دا د يهودا د قبيلې يوه برخه وه.)

۲ يوشع له اريحا څخه د عای ښار ته يو څو نفره ولېږل چې لاړ شي او هغه خاوره وګوري. عای بيت آون ته نژدې او د بيت ئيل په ختيځ کې ؤ. کله چې هغوی دا کار وکړ، ۳ هغوی بېرته راغلل او يوشع ته يې خبر ورکړ: >دا لازمه نه ده چې ټول لښکر په عای باندې حمله وکړي. يوازې دوه يا درې زره نفر ولېږه. ټول لښکر د جنګ دپاره هلته مه لېږه، ځکه چې هغه لوی ښار نه دی.< ۴ نو نژدې درې زره اسراييليانو په هغوی باندې حمله وکړه، مګر په شا تګ ته مجبور شول. ۵ د عای جنګياليو هغوی د ښار له دروازې څخه د تيږو تر کانونو پورې تعقيب کړل او د غونډۍ څخه د کوزېدلو په وخت کې يې له هغوی څخه نژدې شپږ دېرش تنه ووژل. بيا اسراييليانو خپل جرأت له لاسه ورکړ او ووېرېدل.

۶ يوشع او د اسراييلو مشرانو له ډېره غمه خپل کالي وشلول، په خپلو سرونو باندې يې خاورې باد کړې او تر لمرپرېواته پورې د څښتن د لوظ د صندوق په مخکې په ځمکه باندې پړمخې پرېوتل. ۷ يوشع وويل: >ای څښتن تعالیٰ! تا ولې د اردن له سيند څخه راپورې ويستلو؟ د دې دپاره چې موږ د اموريانو په لاس کې ورکړې چې له منځه مو يوسي؟ ولې موږ د اردن د سيند په بله غاړه باندې پاتې نه شو؟ ۸ ای څښتنه، اوس چې اسراييليان له دښمن څخه په شا شوي دي، زه نه پوهېږم چې څه ووايم. ۹ کنعانيان او د هېواد نور خلک به له دې څخه خبر شي. هغوی به موږ محاصره کړي او زموږ نوم به د ځمکې له مخ څخه ورک کړي! بيا به ته د خپل عزت د ساتلو دپاره څه وکړې؟<

۱۰ څښتن يوشع ته وويل: >پاڅېږه! ولې داسې پړمخې پروت يې؟ ۱۱ د اسراييلو خلکو ګناه کړې ده! هغوی زما هغه تړون مات کړی دی کوم چې ما په هغوی باندې حکم کړی ؤ چې عمل ورباندې وکړي. هغوی د هغو شيانو څخه چې بايد له منځه وړل شوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وای ځینې شیان وړي دي. هغه یې غلا کړل، د خپلو شیانو سره یې کېښودل او د هغو په
هکله یې درواغ وویل. ⑫ له همدې کبله اسراییلیان د خپلو دښمنانو په مقابل کې نه شي
ودرېدلی. هغوی ځکه د خپلو دښمنانو څخه په شا کیږي او تښتي چې هغوی خپله په تباهۍ
باندې محکوم شوي دي! زه به تر هغې پورې نور د هغوی سره نه اوسم ترڅو هغه شیان له
منځه یونسي چې د هغو د له منځه وړلو حکم وربانديې شوی دی. ⑬ لاړ شه، خپل قوم
پاک کړه او هغوی تیار کړه چې زما حضور ته راشي. هغوی ته ووایه چې سبا تیار شي،
ځکه چې زه د اسراییلو څښتن خدای داسې وایم: ای د اسراییلو خلکو، تاسو سره یو څه
شیان شته چې ما د هغو د له منځه وړلو حکم دربانديې کړی دی! تاسو تر هغه وخته پورې
د خپلو دښمنانو په مقابل کې نه شئ ودرېدلی ترڅو دا شیان له ځانه لیرې نه کړئ! ⑭
سبا سهار ټول سره راغونډ شئ. تاسو به قبیله په قبیله رامخکې شئ او څښتن به وښایي
چې کومه قبیله ګناهکاره ده. بیا به د هماغې قبیلې طایفې مخکې راشي او څښتن به وښایي
چې کومه طایفه ګناهکاره ده. بیا دې د هماغې طایفې کورنۍ راشي او څښتن به ګناهکاره
کورنۍ په ګوته کړي. په آخره کې دې د هماغې کورنۍ نفر راشي. ⑮ د چا سره چې هغه
شیان پیدا شي کوم چې باید له منځه وړل شوي وای، نو هغه نفر باید د خپلې کورنۍ سره
ووژل شي، د هغوی مړي دې وسوزول شي او مال او جایداد دې یې په اور کې وغورزول
شي. ځکه چې هغه زما تړون مات کړی دی او اسراییلیان یې سخت شرمولي دي.>

⑯ یوشع سهار وختي پاڅېده او هره قبیله یې د څښتن حضور ته راوستله، چېرته چې
څښتن وښودله چې د یهودا قبیله ګناهکاره وه. ⑰ بیا یوشع د یهودا طایفې راوستلې او
څښتن وښودله چې د زارح طایفه ګناهکاره وه. هغه د زارح د طایفې یوه یوه کورنۍ
راوستله او څښتن وښودله چې د زبدي کورنۍ ګناهکاره وه. ⑱ په آخره کې یوشع د
زبدي د کورنۍ یو یو نفر رامخته کړ او څښتن وښودل چې عخان ګناهکار ؤ. ⑲ یوشع
عخان ته وویل: <زما زویه، د اسراییلو د څښتن خدای په مخکې رښتیا ووایه او اقرار
وکړه. اوس ماته ووایه چې تا څه کړي دي. زما څخه د دې خبرې د پټولو هڅه مه کوه.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ عخان په ځواب کې ووېل: <دا رښتیا دي! ما د اسراییلو د ښښتن خدای په مقابل کې
ګناه کړې ده او دا هغه څه دي چې ما کړي دي. ۲۱ د هغو شیانو په منځ کې چې مونږ
ونیول ما یوه ښایسته بابلي چپنه، دوه کیلوګرامه سپین زر او د سرو زرو سیخ چې وزن یې
نیم کیلوګرام ؤ ولیدل، هغه زما ډېر خوښ شول او ما واخیستل. تاسو به هغه زما د خېمې په
منځ کې پیدا کړئ، هغه هلته ښخ دي او د ټولو لاندې سپین زر دي.>

۲۲ نو یوشع یو څو نفره ولېږل. هغوی خېمې ته منډه کړه او ویې لیدل چې هغه شیان په
رښتیا هلته ښخ وو او د هغو لاندې سپین زر وو. ۲۳ هغوی دا شیان له خېمې څخه
راوویستل، یوشع او ټولو اسراییلیانو ته یې وروړل او د ښښتن په حضور کې یې کېښودل.
۲۴ بیا یوشع د اسراییلو د ټول قوم سره عخان، سپین زر، چپنه، د سرو زرو سیخ، د هغه
زامن او لورګانې، پادې، خره او پسونه، د هغه خېمه او هرڅه یې چې درلودل د <مصیبت
درې> ته یوړل. ۲۵ یوشع عخان ته ووېل: <تا ولې په مونږ باندې داسې مصیبت
راوست؟ اوس به ښښتن په تا باندې مصیبت راولي!> بیا ټول قوم عخان او د هغه کورنۍ تر
مرګه سنګسار کړل. هغوی مړي د عخان د مال او جایداد سره یوځای وسوزول. ۲۶ په
هغوی باندې یې د تیږو یوه لویه ډېرۍ جوړه کړه چې تر نن ورځې پورې هلته پاتې ده. بیا
د ښښتن سخت قهر سوړ شو. له دې کبله دا ځای له هغه وخته راهیسې د مصیبت د درې په
نوم یادیږي.

## د عای نیول او له منځه وړل

**۸** ۱ ښښتن یوشع ته ووېل: <مه وېرېږه او مه بې زړه کېږه. ټول لښکر له ځان سره
واخله او عای ته لاړ شه. زه به تا د عای په پادشاه، د هغه په خلکو او ښار باندې بریالی
کړم او د هغه خاوره به ستا شي. ۲ ته به د عای او د هغه د پادشاه سره داسې کار وکړې
لکه څنګه چې دې د اریحا او د هغه ځای د پادشاه سره وکړ. خو دا ځل تاسو کولی شئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغوی مالونه او څاروي د خپلو ځانونو دپاره وساتئ. تیار اوسئ چې په حیرانوونکې
توګه د ښا له خوا په ښار باندې حمله وکړئ.>

۳-۴ نو یوشع د خپلو ټولو عسکرو سره تیار شو چې په عای باندې حمله وکړي. هغه
د خپلو لښکرو څخه دېرش زره ډېر ښه نفر غوره کړل او په شپه کې یې له دې حکمونو
سره ولېږل: <د ښار بل اړخ ته پټ شئ، خو د هغه څخه ډېر لېرې نه. د حملې دپاره تیار
اوسئ. ۵ زه او پاتې نفر به ښار ته نژدې ورشو. کله چې د عای خلک د مخکې ځل په
شان راووزي او په مونږ باندې حمله وکړي، نو مونږ به وتښتو. ۶ هغوی به تر هغې
پورې زمونږ پسې شي ترڅو مونږ هغوی وغولوو چې له ښار څخه لېرې شي. ځکه چې
هغوی به فکر وکړي چې مونږ د مخکې په شان د هغوی څخه تښتو. ۷ بیا به تاسو د
هغه پټ ځای څخه راووزئ او ښار به ونیسئ. زمونږ څښتن خدای به هغه ښار تاسو ته
درکړي. ۸ لکه څنګه چې څښتن امر کړی دی د ښار د نیولو څخه وروسته هغه ته اور
ورواچوئ. د دې امرونو څخه په کلکه اطاعت وکړئ.> ۹ نو یوشع هغوی رخصت کړل
او هغوی خپل د پټېدلو ځای ته لاړل یعني د عای لوېدیځ خواته چې د بیت ئیل او عای
ترمنځ ؤ او هلته یې انتظار کاوه. خو یوشع شپه په کمپ کې تېره کړه.

۱۰ سبا ته سهار وختي یوشع پاڅېده او عسکر یې سره راغونډ کړل. بیا هغه او د اسراییلو
مشرانو تر عای پورې د هغوی لارښوونه وکړه. ۱۱ هغه د ټولو عسکرو سره د ښار د
اصلي دروازې خواته لاړ او په شمال کې یې خېمې ودرولې. د هغوی او عای ترمنځ یوه دره
وه. ۱۲ هغه نژدې پنځه زره نفر بوتلل چې د ښار په لوېدیځ کې د عای او بیت ئیل ترمنځ
مورچل ونیسي. ۱۳ عسکر د جګړې دپاره تیار کړای شول. اصلي کمپ د ښار په شمال
کې ؤ او پاتې نفر په لوېدیځ کې وو. یوشع شپه په دره کې تېره کړه. ۱۴ کله چې د عای
پادشاه د یوشع نفر ولیدل، نو هغه ژر په عمل لاس پورې کړ. هغه د خپلو ټولو نفرو سره د
اردن د درې خواته روان شو چې هلته د اسراییلیانو سره وجنګیږي، خو هغه نه پوهېده چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د شا له خوا به ورباندې حمله وشي. ١٥ یوشع د خپلو نفرو سره داسې وښودله چې
ګوندې هغوی په شا شول او د دښتې خواته وتښتېدل. ١٦ د ښار په ټولو خلکو باندې غږ
وشو چې په اسراییلیانو پسې روان شي. څنګه چې د عای خلک په هغوی پسې لاړل نو
اسراییلیانو هغوی وغولول او د ښار څخه یې لېرې کړل. ١٧ په عای یا بیت ئیل کې چې
هرڅوک ؤ هغه ټول په اسراییلیانو پسې روان شول. هلته هیڅوک پاتې نه شو چې د ښار
څخه دفاع وکړي او د ښار دروازې خلاصې پاتې شوې.

١٨ بیا ښښتن یوشع ته وویل: <خپله نېزه د عای خواته ونیسه، ځکه چې هغه تاته
درکوم.> نو څنګه چې یوشع ته ویل شوي وو هغه هماغسې وکړل ١٩ او څنګه چې هغه
خپله نېزه پورته کړه، کوم نفر چې پټ وو هغوی ژر د خپلو ځایونو څخه پاڅېدل، ښار ته په
منډه ورننوتل او هغه یې ونیوه. هغوی سمدستي ښار ته اور واچاوه. ٢٠-٢١ کله چې د
عای نفرو شاته وکتل نو ویې ولیدل چې د هغوی د ښار څخه اسمان ته لوګی پورته کیږي.
یوشع او د هغه نفرو هم لوګی ولید او هغوی پوه شول چې نورو اسراییلي عسکرو ښار نیولی
دی او اور یې ورته اچولی دی. نو داسې ځای نه ؤ چې د عای نفر ورته د خوندي پاتې
کېدلو دپاره وروتښتي. نو یوشع او د هغه نفر راوګرځېدل او د هغوی په وژلو یې شروع
وکړه. ٢٢ نو هغه اسراییلیان چې په ښار کې وو په جګړه کې د برخې اخیستلو دپاره
راښکته شول. نو د عای خلکو ولیدل چې اسراییلیانو هغوی ښېخي محاصره کړي دي او
هغوی ټول ووژل شول. هیڅوک ونه تښتېده او نه څوک ژوندی پاتې شو، ٢٣ بغیر د عای
د پادشاه څخه. هغه ژوندی ونیول شو او یوشع ته راوړل شو.

٢٤ څه وخت چې اسراییلیانو هغه ټول خلک چې په دښته کې وو او هلته یې هغوی
تعقیب کړي وو، ووژل، نو بیا ټول اسراییلیان د عای ښار ته ورغلل او د هغه ځای ټول
خلک یې ووژل. ٢٥-٢٦ یوشع خپله نېزه د عای خواته ونیوله او تر هغه وخته پورې یې
کښېنښودله ترڅو د هغه ځای ټول نفر ووژل شول. په هغه ورځ د عای ټول نفوس چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دولس زره نفر وو، ووژل شول. ۲۷ لکه څنګه چې څښتن یوشع ته ویلي وو، هغوی هغه
څاروي او مالونه چې په ښار کې یې نیولي وو د خپلو ځانونو دپاره وساتل. ۲۸ نو یوشع
عای وسوزاوه او په کنډواله یې بدل کړ. هغه ځای تر نن ورځې پورې هماغسې پاتې دی.
۲۹ هغه د عای پادشاه په یوې ونې کې ځوړند کړ او د هغه مړی یې تر ماښامه پورې
هلته پرېښود. د لمرپرېواته په وخت کې یوشع حکم وکړ چې هغه مړی دې لېرې کړای شي
او د ښار د دروازې په خوله کې دې وغورځول شي. هغوی هغه د تیږو په لوی انبار کې پټ
کړ چې تر نن ورځې پورې هلته دی.

## د عیبال په غره کې د تورات لوستل

۳۰ بیا یوشع د عیبال په غره باندې د اسراییلو د څښتن خدای دپاره د قربانۍ ځای جوړ
کړ. ۳۱ هغه یې د هغه حکم سره سم جوړ کړ چې د څښتن خدمتګار موسیٰ اسراییلیانو
ته کړی ؤ، لکه څنګه چې د موسیٰ په تورات کې ویل شوي وو: <د قربانۍ ځای دې د
هغو تیږو څخه جوړ شي چې هغه د اوسپنې د سامان آلاتو په وسیله پرې کړل شوې نه
وي.> په هغه باندې هغوی څښتن ته سوزېدونکې قربانۍ او همدارنګه خپلې د سلامتۍ
نذرانې وړاندې کړې. ۳۲ یوشع هلته د اسراییلیانو په مخ کې په تیږو باندې د موسیٰ د
شریعت یو نقل ولیکه. ۳۳ اسراییلیان د خپلو مشرانو، مامورانو، قاضیانو او هغو بېګانه
خلکو سره چې د هغوی په منځ کې اوسېدل، د څښتن د لوظ د صندوق دواړو اړخونو ته
ودرېدل او هغو لاوي کاهنانو ته مخامخ وو چې صندوق یې انتقالاوه. نیم قوم داسې ولاړ ؤ
چې شا یې د جرزیم غره ته وه او نیمایي نورو خپله شا د عیبال غره ته اړولې وه. موسیٰ
حکم کړی ؤ چې هغوی دې په همدې ترتیب سره ودرېږي او برکت دې اعلان شي. ۳۴
بیا یوشع د موسیٰ د تورات د کتاب څخه برکتونه او لعنتونه په لوړ اواز سره ولوستل. ۳۵
یوشع د اسراییلو ټولې غونډې ته چې په هغوی کې ښځې او ماشومان او هغه بېګانه خلک
چې د هغوی په منځ کې اوسېدل، شامل وو د موسیٰ ټول حکمونه ولوستل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جبعونيانو له خوا د يوشع غولول

٩ ١ د اسراييلو د برياليتوبونو خخه هغه ټول پادشاهان خبر شول چې د اردن د سيند
په لوېديځ کې وو، يعني کوم چې په غرنی سيمه، د غرونو په لوېديځو لمنو او د مديترانې د
بحيرې د غاړې څخه شمال خواته تر لبنان پورې اوسېدل. دا د حيتيانو، اموريانو، کنعانيانو،
فرزيانو، حويانو او يبوسيانو پادشاهان وو. ٢ هغوی ټول سره راغونډ شول او د يوشع او
اسراييليانو په مقابل کې د جنګ دپاره يې خپل قوتونه سره يو کړل.

٣ مګر د جبعون خلکو چې حويان وو، واورېدل چې يوشع په اريحا او عای باندې څه
کړي وو ٤ او هغوی د يوشع د غولولو پرېکړه وکړه. هغوی لاړل او يو څه خوارې يې
راواخيستل او په زړو بوجيو او ګنډل شويو د شرابو ژيو يې خپل خره بار کړل. ٥ هغو
خلکو زړې او ګنډل شوې څپلې او زاړه کالي واغوستل. کومه ډوډۍ چې هغوی د ځان سره
اخيستې وه هغه وچه او چڼاسکو وهلې وه. ٦ بيا هغوی يوشع ته هغه کمپ ته ورغلل
چې په جلجال کې ؤ او هغه او اسراييليانو ته يې وويل: <مونږ د يو لېرې هېواد څخه
راغلي يو، ستاسو څخه غواړو چې زمونږ سره د سولې تړون وکړئ.>

٧ خو اسراييليانو وويل: <مونږ څنګه پوه شو چې تاسو زمونږ سره نژدې نه اوسېږئ؟
که چېرې نژدې اوسېږئ نو بيا مونږ نه شو کولی چې ستاسو سره تړون وکړو.>

٨ هغوی يوشع ته وويل: <مونږ ستا غلامان يو.>

يوشع پوښتنه وکړه: <تاسو څوک ياست او له کوم ځای څخه راغلي ياست؟>

٩ هغوی په ځواب کې وويل: <ښاغليه، مونږ د يو ډېر لېرې هېواد څخه راغلي يو، ځکه
چې مونږ ستاسو د څښتن خدای د شهرت په باره کې اورېدلي دي. مونږ د هغو ټولو کارونو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه خبر یو چې هغه په مصر کې کړي دي ۱۰ او هرڅه چې هغه د اردن د سیند په ختیځ کې د اموریانو په دوو پادشاهانو باندې وکړل یعنې د حشبون په پادشاه سیحون او د باشان په پادشاه عوج چې په عشتاروت کې اوسېده. ۱۱ زمونږ مشرانو او هغو ټولو خلکو چې زمونږ په هېواد کې اوسېږي مونږ ته ووېل چې د خپل سفر دپاره له ځان سره د خوړلو او ښښلو دپاره یو څه یوسو، لاړ شو د اسراییلیانو سره ووینو او ورته ووایو چې مونږ ستاسو غلامان یو، زمونږ سره یو تړون وکړئ. ۱۲ زمونږ ډوډۍ ته وګورئ. کله چې مونږ له کور څخه راروان شو هغه توده وه. خو اوس وګورئ! هغه وچه شوې او چڼاسکو وهلې ده. ۱۳ کله چې مونږ د شرابو دا ژي ډک کړل، هغه نوي وو. خو وګورئ! هغه شلېدلي دي. د دې اوږد سفر له کبله زمونږ کالي او څپلۍ زړې شوې دي.>

۱۴ اسراییلیانو د هغوی یو څه ډوډۍ قبوله کړه، خو په دې باره کې یې د ښښتن سره سلا مشوره ونه کړه. ۱۵ یوشع د جبعون د خلکو سره د دوستۍ تړون وکړ او هغوی یې ژوندي پرېښودل. د اسراییلو مشرانو په کلکه وعده وکړه چې په دې تړون باندې به عمل کوي.

۱۶ د جبعونیانو سره د تړون د کولو څخه درې ورځې وروسته اسراییلیانو واورېدل چې دا ګاونډیان دي او د هغوی سره نژدې اوسېږي. ۱۷ نو اسراییلیان روان شول او په درېمه ورځ هغو ښارونو ته ورسېدل چې دا خلک په کې اوسېدل یعنې جبعون، کفیره، بیروت او قریت یعاریم ته. ۱۸ خو اسراییلیانو نه شو کولی چې هغوی ووژني، ځکه چې د هغوی مشرانو د جبعونیانو سره د اسراییلو د ښښتن خدای په نوم کلکه وعده کړې وه. ټول قوم د مشرانو څخه ګیله وکړه، ۱۹ خو هغوی په ځواب کې ووېل: >مونږ د هغوی سره د اسراییلو د ښښتن خدای په نوم کلکه وعده کړې ده. اوس هغوی ته زیان نه شو رسولی.
۲۰ مونږ باید د خپلې وعدې په خاطر هغوی ژوندي پرېږدو. که داسې ونه کړو، نو خدای به مونږ ته سزا راکړي. ۲۱ هغوی ژوندي پرېږدئ، خو هغوی باید زمونږ دپاره لرګي مات کړي او اوبه راوړي.> دا د مشرانو وړاندیز ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ بیا یوشع د جبعون خلک راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: <تاسو ولې مونږ وغولولو
او داسې مو وویل چې مونږ د لېرې ځای څخه یو، حال دا چې زمونږ سره نژدې اوسېږئ؟
۲۳ په دې خاطر چې تاسو داسې کار وکړ، نو اوس په تاسو باندې لعنت ویل شوی دی:
ستاسو خلک به تل تر تله غلامان وي او زما د خدای کور ته به لرګي ماتوي او اوبه به
راوړي.>

۲۴ هغوی په ځواب کې وویل: <ښاغلیه، مونږ خبر شو چې دا رښتیا وه چې ستا څښتن
خدای په خپل خدمتګار موسیٰ باندې امر کړی ؤ چې تاته به دا ټوله ځمکه درکړي او کوم
خلک چې په کې اوسیږي هغوی به ستا له مخې څخه ورک کړي. نو مونږ ځکه داسې کار
وکړ چې ستاسو څخه سخت وېرېدلو چې مونږ به ووژنئ. ۲۵ اوس مونږ ستا په لاس کې
یو. هرڅه چې تاته ښه او مناسب ښکاري زمونږ سره یې وکړه.> ۲۶ نو یوشع هغوی د
اسراییلیانو څخه وژغورل او هغوی جبعونیان ونه وژل. ۲۷ خو په هماغه ورځ یوشع
هغوی غلامان کړل چې د اسراییلو خلکو او د څښتن د قربانۍ ځای دپاره لرګي مات کړي
او اوبه ورته راوړي. تر نن ورځې پورې هغوی په هغه ځای کې چې څښتن د خپل عبادت
دپاره غوره کړی دی همدا کار کوي.

## د اموریانو ماتې

۱۰ ۱ د اورشلیم پادشاه ادوني صدق واورېدل چې یوشع عای نیولی دی او هغه یې
بیخي له منځه وړی او د هغه ځای پادشاه یې وژلی دی لکه څنګه چې هغه د اریحا او د
هغه ځای د پادشاه سره کړي وو. هغه دا هم واورېدل چې د جبعون خلکو د اسراییلو سره د
سولې تړون کړی دی او د هغوی په منځ کې اوسیږي. ۲ د اورشلیم خلک ډېر وېرېدل
ځکه چې جبعون د شاهي ښارونو په شان یو ډېر لوی ښار ؤ. دا ښار د عای څخه لوی ؤ او
ټول خلک یې ښه جنګیالي وو. ۳ نو ادوني صدق د حبرون پادشاه هوهام، د یرموت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پادشاه فرآم، د لاکیش پادشاه یافیع او د عجلون پادشاه دبیر ته دا لاندینی پیغام ولېږه: ۴
<راشئ او زما سره مرسته وکړئ چې په جبعون باندې حمله وکړو، ځکه چې د هغه ځای
خلکو د یوشع او اسراییلیانو سره د سولې تړون کړی دی.> ۵ د اموریانو دغو پنځو
پادشاهانو یعنې د اورشلیم پادشاه، د حبرون پادشاه، د یرموت پادشاه، د لاکیش پادشاه او د
عجلون پادشاه خپل ځواکونه سره یوځای کړل. هغوی جبعون محاصره کړ او په هغه باندې
یې حمله وکړه.

۶ جبعونیانو یوشع ته هغه کمپ ته چې په جلجال کې ؤ دا پیغام ولېږه: <د خپلو
خدمتګارانو څخه لاس مه اخله. همدا اوس راشه او زمونږ سره مرسته وکړه او مونږ
وژغوره! ځکه چې د غرنی سیمې د اموریانو ټولو پادشاهانو زمونږ په ضد ځواکونه سره
یوځای کړي دي او په مونږ باندې یې حمله کړې ده.>

۷ نو یوشع د خپل ټول لښکر سره چې د هغه ترټولو ښه جنګیالي په کې شامل وو له
جلجال څخه روان شو. ۸ څښتن یوشع ته وویل: <د هغوی څخه مه وېرېږه. هغوی به
تاته په لاس درکړم. د هغوی څخه به یو تن هم ونه شي کولی چې ستا په مقابل کې
ودرېږي.> ۹ یوشع او د هغه لښکر ټوله شپه د جلجال څخه د جبعون پورې مزل وکړ
او په اموریانو باندې یې ناڅاپي حمله وکړه. ۱۰ څښتن اموریان د اسراییلیانو په لیدلو
سره ووېرول. اسراییلیانو هغوی په جبعون کې ووژل او پاتې یې په بیت حورون کې د غره د
غاښې په ښکتنۍ لاره تعقیب کړل. هغوی تر هغه وخته پورې په اموریانو باندې خپلې
حملې ته دوام ورکړ ترڅو د عزیقه او مقیده ښارونو ته ورسېدل. ۱۱ کله چې اموریان د
اسراییلو د لښکرو څخه ښکته د غاښې په لاره باندې تښتېدل، څښتن په هغوی باندې تر
عزیقه پورې غټې ږلۍ واورولې. د هغو خلکو شمېر چې په ږلیو مړه شول له هغو خلکو
څخه زیات وو کوم چې د اسراییلیانو له خوا ووژل شول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ په هغه ورځ چې څښتن اسراییلیانو ته په اموریانو باندې بری ورکړ، یوشع څښتن ته دعا وکړه. هغه د اسراییلیانو په مخکې وویل:

<ای لمره، د جبعون په سر باندې ودرېږه

ای سپوږمۍ، د ایالون په دره باندې ودرېږه>

١٣ نو لمر او سپوږمۍ تر هغه وخته پورې ودرېدل ترڅو چې قوم په خپلو دښمنانو باندې فتح ترلاسه کړه. دا پېښه د یاشر په کتاب کې لیکل شوې ده. لمر د اسمان په منځ کې ودرېد او ټوله ورځ ونه لوېد. ١٤ داسې ورځ هیڅکله نه ده راغلې او نه به راشي چې خدای لمر او سپوږمۍ د یو انسان د دعا په خاطر ودروي. څښتن په رښتیا سره د اسراییلو په خاطر جنګېده!

١٥ د جګړې څخه وروسته یوشع او د هغه لښکر بېرته خپل کمپ ته جلجال ته ستانه شول.

## د پنځو امورياییو پادشاهانو وژل کېدل

١٦ د جګړې په وخت کې هغه پنځه امورياییو پادشاهان تښتېدلي وو او ځانونه یې په مقیده کې په سمڅه کې پټ کړي وو. ١٧ یو چا هغوی پیدا کړل او یوشع خبر شو چې هغوی چېرته پټ دي. ١٨ یوشع خپلو نفرو ته وویل: <د سمڅې خولې ته یو څو غټې تیږې ورغړوئ او هلته یو څو ساتونکي ودروئ، ١٩ خو تاسو په خپله هلته مه پاتې کېږئ. د دښمن پسې شئ او د شا له خوا ورباندې حمله وکړئ. هغوی مه پرېږدئ چې خپلو ښارونو ته ورورسیږي! ځکه چې زموږ څښتن خدای موږ په هغوی باندې بریالي کړي یو.> ٢٠ نو یوشع او اسراییلیانو د دښمن عسکر تقریباً ټول له منځه یوړل. خو یوازې یو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول نفره چې پاتې شوي وو هغوی خپلو دېوال لرونکو ښارونو ته ورورسېدل. (۲۱) بیا ټول
لښکر یوشع ته هغه کمپ ته چې په مقیده کې ؤ روغ راستون شو. له دې وروسته هیچا
جرأت نه شو کولی چې د اسراییلیانو په هکله کومه بده خبره وکړي.

(۲۲) بیا یوشع وویل: <د سمخې خوله خلاصه کړئ او هغه پنځه پادشاهان ماته
راوباسئ.> (۲۳) نو هغوی هغه پنځه پادشاهان یعنې د اورشلیم، حبرون، یرموت، لاکیش او
د عجلون پادشاهان له سمخې څخه راوویستل. (۲۴) کله چې هغوی دا پادشاهان یوشع ته
راوستل، هغه د اسراییلو ټول خلک راوغوښتل او د لښکرو قوماندانانو ته یې چې د هغه
سره راغلي وو حکم وکړ چې راشي او د دې پادشاهانو په اورمیږونو باندې خپلې پښې
کېږدي. نو هغوی همداسې وکړل. (۲۵) بیا یوشع خپلو قوماندانانو ته وویل: <مه وېرېږئ او
زړونه مه بایلئ. قوي او زړور اوسئ ځکه چې څښتن به ستاسو په ټولو دښمنانو باندې چې
تاسو ورسره جنګ کوئ همداسې کار وکړي.> (۲۶) بیا یوشع هغه پنځه پادشاهان ووژل او
هغوی یې په پنځو ونو کې ځوړند کړل او د هغوی مړي تر ماښامه پورې هلته پاتې شول.
(۲۷) د لمرپرېواته په وخت کې یوشع حکم وکړ او هغوی د هغو پادشاهانو مړي له ونو
څخه راښکته کړل او په هغه سمخه کې یې وغورزول چېرته چې هغوی مخکې پټ شوي
وو. هغوی د سمخې په خوله کې لویې لویې تیږې کېښودلې او هغه تر نن ورځې پورې هلته
دي.

(۲۸) په هماغه ورځ یوشع د مقیده په ښار باندې حمله وکړه او هغه یې ونیوه او د هغه
پادشاه یې وواژه. هغه د دې ښار ټول خلک ووژل. هیڅوک یې ژوندی پرېنښود. هغه د
مقیده د پادشاه سره هماغه شان چلند وکړ لکه څنګه چې هغه د اریحا د پادشاه سره کړی
ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ وروسته له هغې یوشع او د هغه ټول لښکر له مقیده څخه لبنه ته لاړل او په هغه ځای باندې یې حمله وکړه. ۳۰ خښتن اسراییلیان په دې ښار او د هغه په پادشاه باندې هم بریالي کړل. هغوی هیڅوک ژوندی پرینښود او د ښار ټول خلک یې ووژل. لکه څنګه چې هغوی د اریحا پادشاه وژلی ؤ هماغه شان هغوی د لبنه پادشاه هم وواژه.

۳۱ له هغې وروسته یوشع او د هغه لښکر له لبنه څخه لاکیش ته لاړل، هغه یې محاصره کړ او حمله یېورباندې وکړه. ۳۲ د جګړې په دوهمه ورځ خښتن اسراییلیان په لاکیش باندې بریالي کړل. هغوی د ښار ټول خلک د لبنه د خلکو په څېر ووژل. ۳۳ هورام د جازر پادشاه د لاکیش سره د مرستې دپاره راغی، خو یوشع هغه او د هغه لښکر ته ماتې ورکړه او د هغوی یو نفر یې هم ژوندی پرینښود.

۳۴ بیا یوشع او د هغه لښکر له لاکیش څخه عجلون ته لاړل، هغه یې محاصره کړ او حمله یې ورباندې وکړه. ۳۵ هغوی په هماغه ورځ دا ښار ونیوه او د لاکیش په شان یې د هغه ځای ټول خلک ووژل.

۳۶ له هغې وروسته هغوی له عجلون څخه د غونډیو له لارې حبرون ته وروختل او په هغه باندې یې حمله وکړه. ۳۷ هغوی هغه ښار او د هغه شاوخوا کلي ونیول، بیا یې ټول خلک ووژل چې په هغو کې پادشاه هم شامل ؤ. لکه څنګه چې هغوی عجلون له منځه وړی ؤ هماغه شان یې حبرون هم بېخي له منځه یووړ.

۳۸ بیا یوشع د خپل لښکر سره راوګرځېد او په دبیر باندې یې حمله وکړه. ۳۹ هغوی ښار، د هغه پادشاه او شاوخوا ټول کلي ونیول. د هغه ځای ټول خلک یې بېخي له منځه یوړل. هغوی د دبیر او د هغه ځای د پادشاه سره هماغه شان کار وکړ لکه څنګه یې چې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حبرون د ښار او د لبنه د ښار او پادشاه سره کړی ؤ.

۴۰ یوشع ټوله خاوره فتح کړه. هغه د غرنی سیمې، د غرونو د ختیځو لمنو، د غرونو د لوېدیځو لمنو او د کنعان د جنوبي سیمې پادشاهانو ته ماتې ورکړه. هغه هیڅوک ژوندی پرېنښود، ټول ووژل شول. دا هغه څه وو چې د اسراییلو څښتن خدای د هغو امر کړی ؤ.
۴۱ یوشع دا خاوره له قادش برنیع څخه تر غزې او د جوشن له ټولې سیمې څخه تر جبعون پورې فتح کړه. ۴۲ یوشع په یوې لښکرکشۍ سره په دې ټولو پادشاهانو او د هغوی په سیمو باندې فتح ترلاسه کړه، ځکه چې د اسراییلو څښتن خدای د اسراییلو دپاره جګړه کوله. ۴۳ بیا یوشع د خپل لښکر سره په جلجال کې خپل کمپ ته راستون شو.

## د کنعان د شمال د پادشاهانو ماتې

**۱۱** ۱ کله چې د اسراییلو د بریالیتوب خبر د حاصور پادشاه یابین ته ورسېد، هغه د مادون پادشاه یوباب او د شمرون او اخشاف پادشاهانو ۲ او هغو پادشاهانو ته پیغام ولېږه چې د شمال په غرنی سیمه کې، د اردن په دره کې، د جلیل د جهیل په جنوب کې، د غرونو په لمنو کې او دور ته نژدې په غونډیو باندې اوسېدل. ۳ همدارنګه هغه د کنعانیانو پادشاهانو ته چې د اردن د سیند په دواړو خواوو کې اوسېدل، د اموریانو، حیتیانو، فرزیانو او یبوسیانو پادشاهانو ته چې په غرنی سیمه کې اوسېدل او د هغو حویانو پادشاهانو ته هم پیغام ورولېږه چې د حرمون د غره په لمنو کې د مصفه په خاوره کې اوسېدل. ۴ هغوی د خپلو ټولو عسکرو سره راغلل. هغه یو لوی لښکر ؤ او د دریاب د شګو په شان ډېر وو. هغوی ډېر زیات اسونه او جنګي ګاډۍ هم درلودې. ۵ دا ټول پادشاهان سره راغونډ شول او د میروم د خوړ سره یې کمپ جوړ کړ. هلته هغوی خپل ځواکونه سره یوځای کړل چې د اسراییلو په مقابل کې وجنګیږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ څښتن یوشع ته وویل: <له هغوی څخه مه وېرېږه، ځکه چې زه څښتن به هغوی ټول
ووژنم. سبا دا وخت به هغوی ټول مړه وي. له جګړې څخه وروسته د هغوی اسونه ګوډ
کړئ او جنګي ګاډی یې وسوزوئ.> ۷ نو یوشع او د هغه ټول لښکر په هغوی باندې د
میروم د خوړ تر څنګ ناڅاپه حمله وکړه. ۸ څښتن اسراییلیان په هغوی باندې بریالي
کړل. اسراییلیانو په هغوی باندې حمله وکړه او په شمال کې یې تر مسرفوت مایم او لوی
صیدون او په ختیځ کې د مصفه تر درې پورې تعقیب کړل. جګړه تر هغه وخته پورې روانه
وه ترڅو چې د دښمن له خوا هیڅوک ژوندی پاتې نه شو. ۹ یوشع د هغوی سره هماغه
شان کار وکړ څنګه چې څښتن په هغه باندې امر کړی ؤ: هغه د هغوی اسونه ګوډ کړل او د
هغوی جنګي ګاډی یې وسوزولې.

۱۰ یوشع بېرته راوګرځېد، هغه د حاصور ښار ونیوه او د هغه ځای پادشاه یې وواژه. (په
هغه وخت کې نورې پادشاهۍ چې پورته ورڅخه یادونه وشوه، د حاصور د پادشاه تر
واکمنۍ لاندې وې.) ۱۱ هغوی هلته ټول خلک ووژل. هیڅوک ژوندی پاتې نه شو او ښار
یې وسوزاوه.

۱۲ یوشع هغه ټول ښارونه د هغو د پادشاهانو سره ونیول او ټول یې ووژل. لکه څنګه
چې د څښتن خدمتګار موسیٰ امر کړی ؤ، یوشع هغوی په بشپړه توګه له منځه یوړل. ۱۳
خو بیاهم، اسراییلیانو د هغو ښارونو څخه چې د خاورو په ډېریو باندې ودان شوي وو هیڅ
کوم ښار ونه سوزاوه، پرته له حاصور څخه چې یوشع هغه وسوزاوه. ۱۴ د اسراییلو خلکو
له دې ښارونو څخه ټول قیمتي شیان او څاروي یوړل او د ځانونو دپاره یې وساتل. خو
هغوی ټول خلک ووژل، هیڅوک هم ژوندی پاتې نه شو. ۱۵ څښتن خپل خدمتګار
موسیٰ ته حکمونه ورکړي وو، موسیٰ هغه یوشع ته ورکړل او یوشع هغه سرته ورسول.
یوشع هغه ټول کارونه ترسره کړل کوم چې څښتن په موسیٰ باندې د هغو امر کړی ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یوشع له خوا نیول شوې سیمه

۱۶ نو یوشع دغه ټوله خاوره ونیوله: غرنۍ سیمه، د غرونو لوېدیځې لمنې، شمال او
جنوب دواړه، د جوشن ټوله سیمه، ټوله جنوبي دښته او د اردن دره. ۱۷-۱۸ هغه سیمه د
حالق د غره څخه په جنوب کې د ادوم خواته نژدې تر بعل جاد پورې چې د لبنان په دره
کې دی او د حرمون د غره لاندې پروت دی غزېدلې ده. یوشع د ډېرې مودې دپاره د دغو
ټولو پادشاهانو سره وجنګېده خو هغه ټول یې ونیول او ویې وژل. ۱۹-۲۰ څښتن
موسیٰ ته ویلي وو چې هغه غواړي چې د دې سیمې ښارونه دې له منځه یوړل شي او د
هغو خلک دې په بې رحمۍ سره ووژل شي. په دې خاطر څښتن د هغو ښارونو د خلکو
زړونه سخت کړي وو چې د اسراییلو سره وجنګیږي. یوازینی ښار چې د اسراییلو د قوم
سره یې سوله وکړه هغه د جبعون ښار ؤ چې حٸینې حویان په کې اوسېدل. نور ښارونه د
اسراییلو لښکرو په جګړه کې ونیول.

۲۱ په هغه وخت کې یوشع عناقیان چې لوړ قدونه یې درلودل او په حبرون، دبیر، عناب
او د یهودا او اسراییلو په پاتې ټولو غرنیو سیمو کې اوسېدل هم له منځه یوړل. یوشع هغوی
د خپلو ښارونو سره بېخي له منځه یوړل. ۲۲ د عناقیانو څخه هیڅوک د اسراییلیانو په
خاوره کې پاتې نه شو، یوازې په غزه، جت او اشدود کې حٸینې خلک ژوندي پاتې شول.

۲۳ څنګه چې څښتن موسیٰ ته لارښوونه کړې وه، یوشع ټوله خاوره ونیوله او هغه یې
اسراییلیانو ته د هغوی د خپل ملکیت په توګه ورکړه. هغه یې په څو برخو ووېشله، هرې
قبیلې ته یوه برخه ورسېدله. په آخره کې په هغه هېواد کې ارامي شوه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسیٰ له خوا مات شوي پادشاهان

١٢ ﴿١﴾ مځکې له دې چې موسیٰ مړ شي هغه او د اسراییلو خلکو د اردن د سیند د ختیځې خوا دوو پادشاهانو ته ماتې ورکړه. دې دوو پادشاهانو په هغې سیمې باندې چې د ارنون له درې څخه د حرمون تر غره پورې رسېدله او په هغې کې د اردن د درې ختیځه خوا هم شامله وه حکومت کاوه. ﴿٢﴾ سیحون د اموریانو پادشاه ؤ چې په حشبون کې یې پادشاهي کوله. هغه له عروعیر څخه چې د ارنون د درې په څنګ کې ؤ او د درې له منځ څخه د یبوق تر سیند پورې چې د عمونیانو پوله وه پادشاهي کوله. په دې کې نیم جلعاد شامل ؤ. ﴿٣﴾ په هغې کې د اردن دره د جلیل له جهیل څخه جنوب خواته د بیت یشیموت (د ارام دریاب ختیځ ته) او پیسګاه د غره تر لمنې پورې شامل وو.

﴿٤﴾ همدارنګه موسیٰ او اسراییلیانو د باشان پادشاه عوج ته چې د پاتې شویو رفائیانو څخه ؤ هم ماتې ورکړه. هغه په عشتاروت او ادرعي کې پادشاهي کوله. ﴿٥﴾ د هغه په پادشاهۍ کې د حرمون غر، سلخه او ټول باشان د جشور او معکې تر پولې او همدارنګه نیم جلعاد د حشبون د پادشاه سیحون تر سیمې پورې شامل وو.

﴿٦﴾ موسیٰ او د اسراییلو قوم دغو دوو پادشاهانو ته ماتې ورکړه. د څښتن خدمتګار موسیٰ د هغوی خاوره د روبین او جاد قبیلو ته او د منسي نیمې قبیلې ته د هغوی د ملکیت په توګه ورکړه.

## د یوشع له خوا مات شوي پادشاهان

﴿٧﴾ یوشع او د اسراییلو قوم هغو پادشاهانو ته چې د اردن د سیند په لوېدیځه خوا کې وو ماتې ورکړه، یعني له بعل جاد څخه چې د لبنان په دره کې پروت ؤ د حالق تر غره پورې چې په جنوب کې ادوم ته نژدې ؤ. یوشع هغه ځمکه د اسراییلو د قبیلو ترمنځ ووېشله او د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ملکیت په توګه يې هغوی ته ورکړه. ۸ کومه ځمکه چې یوشع د هغوی په منځ کې
ووېشله په هغې کې دا ځایونه شامل وو: غرنی سیمه، د غرونو لوېدیځې لمنې، د اردن دره، د
غرونو ختیځې ډډې او د کنعان جنوبي دښته. دا ځمکه د حیتیانو، اموریانو، کنعانیانو،
فرزیانو، حویانو او یبوسیانو وطن ؤ. ۹ د اسراییلو قوم د لاندینیو ښارونو پادشاهانو ته
ماتې ورکړه: اریحا، عای (بیت ئیل ته نژدې)، ۱۰ اورشلیم، حبرون، ۱۱ یرموت، لاکیش،
۱۲ عجلون، جازر، ۱۳ دبیر، جدر، ۱۴ حرما، عراد، ۱۵ لبنه، عدولام، ۱۶ مقیده،
بیت ئیل، ۱۷ تفوح، حافر، ۱۸ عفیق، لشارون، ۱۹ مادون، حاصور، ۲۰
شمرون مرون، اخشاف، ۲۱ تعنک، مجدو، ۲۲ قادش، یقنعام (په کرمل کې)، ۲۳ دور
(د دور په لوړو سیمو)، قوئیم (په جلیل کې) ۲۴ او ترزه. د ټولو پادشاهانو شمېر یو دېرشو
ته رسېده.

## هغه ځمکه چې اسراییلو نه وه نیولې

**۱۳** ۱ کله چې یوشع زوړ شو، ښښتن هغه ته ووېل: <ته ډېر زوړ شوی یې، خو ډېره
ځمکه لا پاتې ده چې باید ونیول شي. ۲ دا هغه ځمکه ده چې پاتې ده: د فلسطینیانو او
د جشوریانو ټوله سیمه، ۳ همدارنګه د عویانو سیمه تر جنوب پورې (د شیحور ښخه
نیولې چې د مصر په پولې کې وه د عقرون تر پولې پورې چې په شمال کې وه، د کنعانیانو
ځمکه ګڼل کېده. د فلسطین پادشاهان په غزه، اشدود، اشقلون، جت او عقرون کې اوسېدل)،
۴ د کنعانیانو ټول هېواد او میعاره چې په صیدونیانو پورې اړه لري تر افیق پورې چې د
اموریانو په پولې کې دی، ۵ د جبلیانو ځمکه او ټول لبنان تر ختیځ پورې، له بعل جاد
ښخه نیولې چې د حرمون د غره جنوب خواته پروت دی د حمات تر غاښي پورې. ۶
په دې کې د صیدونیانو چې د لبنان د غرونو او د مسرفوت مایم ترمنځ په غرنۍ سیمه کې
اوسېږي ټوله سیمه شامله ده. زه به په خپله د اسراییلو له مخې ښخه دا خلک لېرې کړم.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې ما په تا باندې امر کړی دی، ته باید دا ځمکه د اسراییلیانو په منځ کې وویشې.
۷ بیا دا ځمکه په هغو نهو قبیلو او د منسي په نیمې قبیلې وویشه چې تر اوسه پورې
ځمکه نه لري چې د هغوی ملکیت شي.>

## د اردن د سیند په ختیځ کې د ځمکې ویشل

۸ موسیٰ لا پخوا د روبین او جاد قبیلو او د منسي بلې نیمې قبیلې ته هغه ځمکه
ورکړې وه کومه چې د اردن د سیند په ختیځه غاړه باندې پرته وه. ۹ دا سیمه د هغه
ښار څخه چې د ارنون د درې په منځ کې ؤ او په هغې کې د عروعیر ښار چې د هغې درې
په شمالي څنډه کې ؤ شامل ؤ، شمال خواته غزېدلې ده. په هغې کې د دیبون په شمال کې د
میدبا لوړه جلګه شامله وه. ۱۰ د هغوی سیمه د عمون تر پولې پورې رسېدله. همدارنګه
په هغې کې هغه ټول ښارونه هم شامل وو چې د اموریانو پادشاه سیحون به ورباندې د
حشبون له ښار څخه حکومت کاوه. ۱۱ په هغې کې جلعاد، د جشور او معکې سیمې، د
حرمون ټول غر او ټول باشان تر سلخه پورې شامل وو. ۱۲ په هغې کې د عوج پادشاهي
شامله وه. عوج د رفائیانو له جملې څخه یوازینی نفر ؤ چې ژوندی پاتې شوی ؤ او په
عشتاروت او ادرعي کې یې پادشاهي کوله. موسیٰ دې خلکو ته ماتې ورکړې وه او هغوی
یې شړلي وو. ۱۳ خو بیاهم اسراییلیانو جشوریان او معکیان ونه شړل، نو هغوی تر نن
ورځې پورې د اسراییلیانو په منځ کې اوسیږي.

۱۴ موسیٰ د لاوي قبیلې ته هیڅ ځمکه نه وه ورکړې، ځکه چې د اسراییلو څښتن خدای
هغوی ته ویلي وو: <تاسو به د ځمکې په ځای هغه قرباني ترلاسه کوئ کومې چې زما په
قربانګاه باندې سوزول کیږي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د روبین قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

۱۵ موسیٰ د روبین په قبیله کې هرې یوې طایفې ته ځمکه ورکړه. ۱۶ د هغوی ځمکه
په جنوب کې په هغه ښارګوټي کې شروع کېدله چې د ارنون د درې په منځ کې ؤ. په هغې
کې د عروعیر ښارګوټی چې د درې په شمالي څنډه کې ؤ، شامل ؤ او په شمال کې د میدبا
د شاوخوا لوړې جلګې پورې رسېدله. ۱۷ په دې کې حشبون او کوم ښارګوټي چې په
لوړې جلګې باندې پراته وو یعنې دیبون، باموت بعل، بیت بعل معون، ۱۸ یاهص،
قدیموت، میفاعت، ۱۹ قریتایم، سبمه، سارت شحر چې په دره کې په غونډۍ باندې ؤ،
۲۰ بیت فغور، د پیسګاه د غره ډډې او بیت یشیموت ټول شامل وو. ۲۱ هغه ټول
ښارګوټي چې په لوړې جلګې باندې پراته وو او د سیحون ټوله پادشاهي (سیحون د
اموریانو پادشاه ؤ او په حشبون کې یې حکومت کاوه) شامل وو. موسیٰ سیحون او د
مدیانیانو مشرانو یعنې اوي، راقم، صور، حور او رابع ته ماتې ورکړې وه. دا مشران چې په
هغه هېواد کې اوسېدل د سیحون سره ملګري شول. ۲۲ په هغو خلکو کې چې د
اسراییلیانو له خوا وژل شوي وو، بلعام د بعور زوی چې فال کتونکی ؤ هم شامل ؤ. ۲۳
دا سیمه او د هغې ښارونه او کلي د روبین قبیلې ته د هغوی د ملکیت په توګه ورکړل شول
او د اردن سیند د هغې لوېدیځه پوله وه.

## د جاد قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

۲۴ همدارنګه موسیٰ د جاد په قبیله کې هرې یوې طایفې ته ځمکه ورکړه. ۲۵ د
هغوی په سیمه کې یعزیر، د جلعاد ټول ښارګوټي او د عمون نیمه ځمکه تر عروعیر پورې
چې د ربه په ختیځ کې وه شامل وو. ۲۶ د هغوی ځمکه د حشبون څخه نیولې تر
رامت مصفه او بطونیم پورې او د محنایم څخه نیولې د دبیر تر سیمې پورې وه. ۲۷ د
اردن د درې په هغه سیمه کې چې جاد ته ورکړل شوې وه په هغې کې بیت هارام، بیت نمره،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوکوت او صافون یعني د حشبون د پادشاه سیحون پخوانی پادشاهي شامله وه. د هغوی لوېدیځه پوله د اردن سیند ؤ او هغه په شمال کې د جلیل تر جهیل پورې رسېدله. ﴿۲۸﴾ دا هغه سیمې او د هغو ښارګوټي او کلي وو چې د جاد قبیلې ته ورکړل شول.

## د ختیځې منسي قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

﴿۲۹﴾ موسیٰ د منسي په نیمه قبیله کې هرې یوې طایفې ته ځمکه ورکړه. ﴿۳۰﴾ د هغوی سیمه تر محنایم پورې وه او په هغې کې د باشان پادشاه عوج ټوله پادشاهي او همدارنګه په باشان کې د یائیر ټول شپېته کلي شامل وو. ﴿۳۱﴾ په دې کې نیم جلعاد، همدارنګه عشتاروت او ادرعي یعني په باشان کې د عوج د پادشاهۍ شاهي ښارونه شامل وو. دا ټول هغو نیمو طایفو ته ورکړل شول چې له ماخیر یعنې د منسي د زوی څخه د اولادې په توګه پاتې وې.

﴿۳۲﴾ په دې ډول موسیٰ د موآب ډاګونه چې د اردن د سیند په بله غاړه او د اریحا په ختیځ کې وو ووېشل. ﴿۳۳﴾ خو موسیٰ د لاوي قبیلې ته هیڅ ځمکه ورنه کړه، ځکه چې څښتن وعده کړې وه چې هغه به همېشه د هغوی اړتیاوې پوره کوي.

## د اردن د سیند په لوېدیځ کې د ځمکې وېش

۱۴ ﴿۱﴾ هغه ځمکې چې بني اسراییلو د کنعان په خاوره کې ترلاسه کړې، العازار کاهن، د نون زوی یوشع او د قوم مشرانو د هغوی ترمنځ ووېشلې. ﴿۲﴾ لکه څنګه چې څښتن د موسیٰ په وسیله امر کړی ؤ، د اردن د سیند په لوېدیځ کې د نهو قبیلو او نیمې قبیلې سیمې د پچې اچولو په وسیله وټاکل شوې. ﴿۳﴾-﴿۴﴾ موسیٰ پخوا هغه ځمکه چې د اردن د سیند په ختیځ کې وه نورو دوه نیمو قبیلو ته ورکړې وه. (د یوسف اولاده په دوو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبیلو وېشل شوې وه: د منسي او افرایم قبیلې.) خو موسیٰ لاویانو ته د سیمې هیڅ کومه برخه نه وه ورکړې. د هغې په ځای هغوی ښارګوټي ترلاسه کړل چې په کې واوسېږي او د خپلو پادو او رمو دپاره څړځایونه. ۵ نو اسراییلیانو د څښتن د امر له مخې چې موسیٰ ته یې کړی ؤ ځمکه وووېشله.

## کالیب ته د حبرون ورکول

۶ یوه ورځ د یهودا د قبیلې یو څو نفره په جلجال کې یوشع ته راغلل. د هغو څخه یو نفر کالیب د قنزي یفنه زوی هغه ته ووېل: <آیا ستا په یاد دي چې څښتن خپل نبي موسیٰ ته په قادش برنیع کې زما او ستا په هکله څه ووېل؟ ۷ زه څلوېښت کلن وم کله چې د څښتن خدمتګار موسیٰ له قادش برنیع څخه ولېږلم چې د دې خاورې جاسوسي وکړم. نو څه چې ما لیدلي وو د هغو په باره کې مې هغه ته حقیقت ووایه. ۸ خو زما سره چې کوم نفر تللي وو، هغوی زموږ خلک دې خاورې ته د تللو څخه ووېرول. خو ما په وفاداری سره د خپل څښتن خدای مقصد سرته ورساوه. ۹ په هماغه ورځ زه بېرته راغلم او موسیٰ راته ووېل: څرنګه چې ته څښتن خدای ته وفادار وې نو زه وعده کوم چې په کومه خاوره کې چې ته ګرځېدلی یې، هغه به د تل دپاره ستا او ستا د اولادې شي. ۱۰ یوشع، پنځه څلوېښت کاله مخکې څښتن موسیٰ ته ویلي وو چې دا وعده وکړي او اوس زه پنځه اتیا کلن یم. که څه هم اسراییل په دښته کې یو ځای او بل ځای ګرځېدل، خو لکه څنګه چې څښتن ویلي وو، هغه په دې ټول وخت کې زه ژوندی وساتلم. ۱۱ زه نن هم د هماغه وخت په شان چې موسیٰ ولېږلم قوي یم. کوم قوت چې ما په هغه وخت کې درلود، اوس یې هم لرم او د جګړې او نورو کارونو دپاره تیار یم. ۱۲ اوس دغه غرنۍ سیمه چې په هغه ورځ څښتن زما سره د هغې وعده کړې وه ماته راکړه. تا په خپله په هغه ورځ واورېدل چې لوړ قدي عناقیان هلته اوسېږي او د هغوی ښارونه لوی دي او دېوالونه لري، خو لکه څنګه چې څښتن ویلي دي هغه به زما سره مرسته وکړي چې هغوی وشړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ بیا یوشع کالیب ته برکت ورکړ او هغه ته یې د حبرون ښار د هغه د ملکیت په توګه
ورکړ. ۱۴ نو حبرون تر اوسه پورې د کالیب د اولادې ملکیت دی، ځکه چې هغه په
وفاداری سره د اسراییلو د څښتن خدای اطاعت کړی ؤ. ۱۵ له دې څخه مخکې حبرون
د اربع د ښار په نوم یادېده. اربع د عناقیانو په منځ کې یو لوی اتل ؤ.

نو بیا په هېواد کې ارامي شوه.

## د یهودا قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

۱۵ ۱ د یهودا د قبیلې طایفو د ځمکې یوه برخه ترلاسه کړه چې په لاندې ډول
تشریح کېږي: دا ځمکه د صین د دښتې جنوب یعنې د ادوم د پولې پورې رسېدله. ۲ د
هغو جنوبي پوله د ارام دریاب د جنوبي برخې په پای کې پیل شوې، ۳ د عقربیم د
غاښې جنوب خواته تللې، د صین تر دښتې پورې غزېدلې ده او د قادش برنیع تر جنوب
پورې وه. بیا هغه د حصرون څخه تېره شوې، پورته د ادار خواته تللې او د قرقع خواته
ګرځېدلې ده. ۴ هغه د عصمون څخه تېره شوې او د هغه خوړ سره یو ځای شوې ده
چې د مصر د پولې سره ؤ او د مدیترانې په بحیره کې ختمه شوې ده. دا د ټولو اسراییلو
جنوبي پوله هم وه.

۵ د یهودا د قبیلې ختیځه پوله د ارام دریاب ؤ. دا پوله په شمال کې تر هغه ځایه پورې
غزېدلې ده په کوم ځای کې چې د اردن سیند د ارام دریاب سره یوځای کېږي ۶ او هغه
تر بیت حجله پورې غزېدلې ده، د بیت عربه شمال خواته تللې او له هغه ځای څخه د
بوهن ګټ ته راوتلې ده. (بوهن د روبین زوی ؤ.) ۷ او دا پوله بیا د مصیبت له درې
څخه پورته دبیر ته راوتلې او د شمال خواته د جلجال په لورې چې د درې په جنوب کې د
ادومیم غاښې ته مخامخ ده، ګرځېدلې ده. بیا هغه د عین شمس د چینو خواته تللې او په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عین روجل کې راوتلې ده. ۸ بیا دا پوله د غونډۍ جنوب خواته د هنوم د درې په لاره
تېره شوې ده چېرته چې د یبوسیانو ښار یعنې اورشلیم پروت ؤ. دا پوله بیا د هغې غونډۍ
سرته رسېږي چې د هنوم د درې په لوېدیځه خوا کې وه چېرته چې د رفائیم د درې شمالي
برخه وه. ۹ له هغه ځای څخه دا پوله د نفتوح چینو او بیا هغو ښارګوټو ته تللې ده چې
د عفرون غر ته نژدې وو. دا پوله هلته د بعله خواته ګرځېدلې ده چې اوس د قریت یعاریم
په نوم یادیږي، ۱۰ چېرته چې دغه پوله د ادوم د غرنی سیمې په خوا کې د بعله د لوېدیځ
څخه راچاپېره شوې ده. بیا هغه د یعاریم د غره شمالي خوا (کسالون) ته تللې، ښکته بیت
شمس ته راوتلې او د تمنه څخه تېرېږي. ۱۱ بیا دا پوله هغې غونډۍ ته وتلې ده چې د
عقرون په شمال کې ده. بیا د شکرون خواته ګرځېدلې، د بعله له غره څخه تېره شوې او
یبنئیل ته راوتلې ده. دا پوله د مدیترانې په بحیره کې ختمه شوې ده ۱۲ او هلته یې
لوېدیځه پوله جوړه کړې ده.

د یهودا خلک په دې سرحدونو کې اوسېدل.

## د کالیب له خوا د حبرون او دبیر نیول

(قاضیان ۱: ۱۱ – ۱۵)

۱۳ څنګه چې څښتن په یوشع باندې امر کړی ؤ، د یهودا د سیمې یوه برخه د یفنه زوی
کالیب ته چې د یهودا د قبیلې څخه ؤ ورکړل شوه. هغه د حبرون ښار چې د عناق د نیکه
یعنې اربع پورې یې اړه درلوده ترلاسه کړ. ۱۴ کالیب د عناق اولاده یعنې د شیشای،
اخیمان او تلمای طایفې له ښار څخه وشړلې. ۱۵ کالیب له هغه ځای څخه د دبیر په
اوسېدونکو باندې د حملې دپاره لاړ. (دا ښار مخکې د قریت سفر په نوم یادېده.) ۱۶
کالیب وویل: <هرچا چې قریت سفر فتح کړ، زه به خپله لور عکسه هغه ته په نکاح
ورکړم.> ۱۷ عتنیئیل د کالیب د ورور قناز زوی هغه ښار ونیوه، نو کالیب خپله لور هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته په نکاح ورکړه. ۱۸ د واده په ورځ عتنیئیل هغه وهڅوله چې د خپل پلار څخه یو پټی وغواړي. عکسه له خپل خره څخه ښکته شوه او کالیب د هغې څخه پوښتنه وکړه: <څه غواړې؟> ۱۹ هغې په ځواب کې وویل: <زه د اوبو یو څو چینې غواړم. هغه ځمکه چې تا راته راکړې ده هغه په جنوبي دښته کې ده.> نو کالیب هغې ته پورتنی او ښکتنی چینې ورکړې.

## د یهودا ښارګوټي

۲۰ دا هغه ځمکه ده چې د یهودا د قبیلې طایفو د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه: ۲۱ هغه لیرې جنوبي ښارګوټي چې د هغوی پورې یې تعلق درلود، یعنې هغه ښارګوټي چې د ادوم پولې ته نژدې وو دا وو: قبصئیل، عیدر، یاجور، ۲۲ قینه، دیمونه، عدعده، ۲۳ قادش، حاصور، یتنان، ۲۴ زیف، طالم، بعلوت، ۲۵ حاصور حدته، قریوت حصرون (حاصور)، ۲۶ امام، شمع، مولاده، ۲۷ حزر جده، حشمون، بیت فالط، ۲۸ حزر شوعال، بئرشبع، بزیوتیه، ۲۹ بعله، عییم، عاصم، ۳۰ التولد، کسیل، حرما، ۳۱ صقلغ، مدمنه، سنسنه، ۳۲ لباعوت، سلخیم، عین او رمون – د شاوخوا کلیو سره ټول نهه ویشت ښارګوټي وو.

۳۳ هغه ښارګوټي چې د غرونو په لوېدیځو لمنو کې پراته وو: اشتاول، زرعه، اشنه، ۳۴ زانوح، عین جنیم، تفوح، عینام، ۳۵ یرموت، عدولام، سوکوه، عزیقه، ۳۶ شعرایم، عدیتایم، جدیره او جدیروتایم – د شاوخوا کلیو سره څوارلس ښارګوټي وو.

۳۷ صنان، حداشاه، مجدل جاد، ۳۸ دلعان، مصفه، یقتئیل، ۳۹ لاکیش، بصقت، عجلون، ۴۰ کبون، لحمام، کتلیش، ۴۱ جدیروت، بیت داجون، نعمه او مقیده – د شاوخوا کلیو سره شپاړس ښارګوټي وو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۴۲) لبنه، عاتر، عاشان، (۴۳) یفتاح، اشنه، نصیب، (۴۴) قعیله، اکزیب او مریشه – د شاوخوا کلیو سره نهه ښارګوټي وو.

(۴۵) عقرون د شاوخوا کلیو او باڼډو سره، (۴۶) د عقرون څخه د مدیترانې تر بحیرې پورې هغه ټول ښارونه او ښارګوټي چې اشدود ته نژدې وو.

(۴۷) اشدود او غزه د هغو د ښارګوټو او کلیو سره تر هغه خوړ پورې چې د مصر په پوله کې ؤ او د مدیترانې د بحیرې تر غاړې پورې.

(۴۸) هغه ښارګوټي چې په غرنۍ سیمه کې وو: شامیر، یتیر، سوکوه، (۴۹) دنه، قریت سفر (دبیر)، (۵۰) عناب، اشتموع، عانیم، (۵۱) جوشن، حولون او جیلوه – د شاوخوا کلیو سره یوولس ښارګوټي وو.

(۵۲) اراب، دومه، اشعان، (۵۳) یانوم، بیت تفوح، افیقه، (۵۴) حمطه، قریت اربع (حبرون) او صیعور – د شاوخوا کلیو سره نهه ښارګوټي وو.

(۵۵) معون، کرمل، زیف، یوطه، (۵۶) یزرعیل، یقدعام، زانوح، (۵۷) قاین، جبعه او تمنه – د شاوخوا کلیو سره لس ښارګوټي وو.

(۵۸) حلحول، بیت صور، جدور، (۵۹) معارات، بیت عنوت او التقون – د شاوخوا کلیو سره شپږ ښارګوټي وو.

(۶۰) قریت بعل (قریت یعاریم) او ربه – د شاوخوا کلیو سره دوه ښارګوټي وو.

(۶۱) هغه ښارګوټي چې په دښته کې پراته وو: بیت عربه، مدین، سکاکه، (۶۲) نبشان، د مالګې ښار او عین جدي – د شاوخوا کلیو سره شپږ ښارګوټي وو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۳ خو د یهودا خلکو نه شو کولی چې یبوسیان د اورشلیم څخه وشړي. له دې کبله هغوی تر اوسه پورې د یهودا د خلکو سره په هغه ښار کې اوسیږي.

## د افرایم او لوېدیځې منسي قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

**۱۶** ۱ د هغې ځمکې جنوبي سرحد چې د یوسف اولادې ته ورکړل شوې ده اریحا ته نژدې د اردن د سیند څخه پیل شوی دی یعنې د اریحا د چینو د ختیځ څخه پیل شوی او د دښتې څخه تېر شوی او د اریحا څخه د بیت ئیل تر غرنی سیمې پورې رسېدلی دی.
۲ هغه د بیت ئیل څخه لوز ته راوتلی دی او عطاروت ادار ته چې ارکیان په کې اوسېدل وتلی دی. ۳ بیا د ښکتني بیت حورون پورې په لوېدیځ کې د یفلیطیانو سیمې ته غزېدلی دی. د هغه ځای څخه جازر ته وتلی او د مدیترانې په بحیره کې ختم شوی دی.

۴ د یوسف اولادې یعنې د افرایم او لوېدیځې منسي قبیلو دا ځمکه د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه.

### افرایم

۵ دا سیمه طایفه په طایفه د افرایم سیمه وه: د هغوی د ځمکې سرحد د عطاروت ادار څخه چې په ختیځ کې ؤ پورتني بیت حورون ته رسېده ۶ او د مدیترانې بحیرې ته تللی دی. له مکمیته څخه چې په شمال کې ؤ، ختیځ خواته تعنت شیلوه ته راګرځېدلی او د هغه ځای په ختیځ کې تېر شوی او یانواح ته تللی دی. ۷ بیا دا سرحد د یانواح څخه عطاروت او نعره ته راکوز شوی، د اریحا سره نښتی او د اردن سیند ته راوتلی دی. ۸ له تفوح څخه دا سرحد لوېدیځ خواته د قانه خوړ ته تللی او د مدیترانې په بحیره کې ختم شوی دی. دا هغه ځمکه وه چې د ملکیت په توګه د افرایم قبیلې ته طایفه په طایفه ورکړل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه. (٩) په دې کې ځينې ښارګوټي او کلي هم شامل وو چې د منسي د قبيلې په خاوره
کې وو، خو هغه افرايم ته ورکړل شول. (١٠) مګر هغوی کنعانيان چې د جازر اوسېدونکي
وو ونه شړل. نو کنعانيان تر نن ورځې پورې د افرايميانو په منځ کې اوسيږي، خو هغوی
مجبور دي چې د غلامانو په توګه کار وکړي.

## لوېديځه منسي

١٧ (١) د ځمکې يوه برخه چې د اردن د سيند په لوېديځ کې وه ځينو کورنيو ته چې د
يوسف د مشر زوی منسي اولاده وه ورکړل شوه. ماخير د جلعاد پلار ؤ او د منسي مشر
زوی ؤ. ماخير يو پوځي اتل ؤ نو د اردن د سيند په ختيځ کې د جلعاد او باشان سيمې هغه
ته ورکړل شوې. (٢) د اردن د سيند په لوېديځ کې د منسي پاتې کورنيو ته ځمکه ورکړل
شوه چې هغه کورنۍ دا وې: ابيعزر، هالک، اسريئيل، شکيم، حافر او شميداع. دا د يوسف د
زوی يعنې منسي نارينه اولاده وه او هغوی د کورنيو مشران وو. (٣) د منسي لمسي جلعاد
يو زوی درلود چې حافر نومېده. حافر يو زوی درلود چې صلفحاد نومېده او هغه هيڅ زامن
نه درلودل، خو پنځه لورګانې يې درلودلې چې نومونه يې دا وو: محله، نوعه، حجله، ملکه او
ترزه. (٤) هغوی العازار کاهن، د نون زوی يوشع او مشرانو ته ورغلې او ويې ويل:
<ښښتن موسیٰ ته ويلي دي چې صلفحاد هيڅ زامن نه لري. نو د هغه هرې لور ته د
ځمکې يوه برخه ورکړه.> يوشع د ښښتن د امر ښخه اطاعت وکړ. هغه د صلفحاد لورګانو
ته د هغوی د نارينه خپلوانو په شان ځمکه ورکړه. (٥)-(٦) يوشع د منسي نارينه او
ښځينه اولادې ته ځمکه ورکړه. په دې خاطر د منسي قبيلې د جلعاد او باشان په سيمو
برسېره چې په ختيځه خوا کې وې د اردن د سيند په لوېديځه خوا کې لس برخې ځمکه
ترلاسه کړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ د منسي سيمه له اشير څخه تر مکميته پورې رسېده. مکميته د شکيم په ختيځ کې وه
او سرحد يې بيا جنوب خواته هغه ځای ته چې د عين تفوح خلک په کې اوسېدل رسېدلې
ده. ۸ د تفوح ښارګوټی د منسي او افرايم د سيمو ترمنځ په سرحد کې پروت ؤ. په خپله
ښار د افرايم د قبيلې ؤ، خو د هغه شاوخوا ځمکه د منسي د قبيلې وه. ۹ دا سرحد بيا
ښکته د قانه خوړ ته تللی دی. کوم ښارګوټي چې د خوړ په جنوب کې وو هغه د افرايم
شول، که څه هم هغه د منسي په سيمه کې وو. د منسي سرحد د خوړ په شمالي خوا باندې
تېر شوی او د مديترانې په بحيره کې ختم شوی دی. ۱۰ افرايم په جنوب کې پروت ؤ او
منسي په شمال کې. د مديترانې بحيره د هغوی لوېديځ سرحد ؤ. اشير په شمال لوېديځ کې
پروت ؤ او يساکار په شمال ختيځ کې. ۱۱ د يساکار او اشير په سيمو کې منسي بيت شان
او يبلعام د هغو د شاوخوا کليو سره او همدارنګه دور (هغه دور چې په غونډيو باندې ؤ)،
عين دور، تعنک، مجدو او د هغو شاوخوا کلي ترلاسه کړل. ۱۲ بياهم منسيانو نه شو کولی
هغه کنعانيان وشړي چې په دې ښارګوټو کې اوسېدل، نو هغوی هلته اوسېدلو ته دوام ورکړ.
۱۳ که څه هم کله چې اسراييليان نور هم قوي شول، کنعانيان يې په سخت کار کولو
باندې مجبور کړل خو ټبخي يې ونه شړل.

## د افرايم او لوېديځې منسي له خوا د نورې ځمکې غوښتنه

۱۴ يوه ورځ د يوسف اولاده يوشع ته ورغله او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: <تا ولې مونږ
ته له دې ځمکې څخه يوازې يوه برخه راکړې ده؟ څښتن مونږ ته همېشه برکت راکړی دی،
په دې خاطر زمونږ خلک ډېر زيات دي خو دا سيمه کوچنی ده.>

۱۵ يوشع په ځواب کې ووېل: <که چېرې تاسو ډېر يئ او د افرايم غرنی سيمه ستاسو
دپاره ډېره کمه وي، بيا پورته ځنګلونو ته لاړ شئ او د فرزيانو او رفائيانو په ځمکه کې د
ځانونو دپاره ځمکه د ونو څخه پاکه کړئ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ د یوسف اولادې په ځواب کې وویل: <زمونږ دپاره غرنی سیمه بس نه ده. برسېره
پردې، ټول کنعانیان چې په ډاګونو کې یعنې هغوی چې په بیت شان او د هغه ځای په
شاوخوا کلیو کې اوسېږي او هغه کنعانیان چې د یزرعیل په دره کې اوسېږي، هغوی ټول د
اوسپنې جنګې ګاډی لري.>

١٧ یوشع د افرایم او د لوېدیځې منسي قبیلو ته وویل: <تاسو په رښتیا سره زیات او ډېر
قوي یئ. تاسو ته به له یوې برخې څخه زیاته سیمه درکړل شي. ١٨ غرنی سیمه به
ستاسو شي. خو هغه ځمکه یو ځنګل دی، تاسو باید ونې ووهئ او ځمکه یې پاکه کړئ او
هغه په بشپړه توګه ونیسئ. که څه هم کنعانیان قوي دي او د اوسپنې جنګې ګاډی لري، خو
تاسو به وکولی شئ چې هغوی وشړئ.>

## د پاتې ځمکې وېش

**١٨** ١ کله چې هغوی هغه خاوره ونیوله، د اسراییلو ټول قوم په شیلوه کې سره
راغونډ شو او هلته یې مقدسه خېمه ودروله. ٢ د اسراییلو اووه قبیلې وې چې خپله د
ځمکې برخه لا ورته نه وه ورکړل شوې. ٣ نو یوشع د اسراییلو قوم ته وویل: <تاسو به
ترڅو پورې د هغې ځمکې په نیولو کې چې ستاسو د نیکونو څښتن خدای تاسو ته درکړې
ده سستي کوئ؟ ٤ د هرې قبیلې څخه درې درې تنه وټاکئ. زه به هغوی ولېږم چې ټول
هېواد وګوري او هغه سیمه اندازه کړي چې هغوی به یې د خپل ملکیت په توګه ترلاسه
کوي. بیا دې هغوی بېرته ماته راشي. ٥ د هغوی په منځ کې به دا ځمکه په اوو برخو
ووېشل شي. د یهودا قبیله به په خپله سیمه یعنې په جنوب کې پاتې شي او د یوسف اولاده
به په خپله سیمه یعنې شمال کې پاتې شي. ٦ وروسته له هغې چې تاسو د ځمکې د اوو
برخو تشریح ولیکئ، ماته یې دلته راوړئ او زه به د خپل څښتن خدای په حضور کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو دپاره پچه واچوم. ⑦ خو بیاهم لاویان به ستاسو د پاتې خلکو سره د ځمکې برخه ترلاسه نه کړي، ځکه چې د هغوی برخه څښتن ته د کاهنانو په توګه خدمت کول دي. البته د جاد، روبین او د ختیځې منسي قبیلو لا مخکې د اردن د سیند په ختیځ کې خپله ځمکه ترلاسه کړې ده، هغه ځمکه د څښتن خدمتګار یعنې موسیٰ هغوی ته ورکړې ده.>

⑧ څنګه چې هغه نفر د هغې ځمکې د نقشې اخیستلو دپاره روان شول نو یوشع هغوی ته وویل: <لاړ شئ او د ټولې خاورې اندازه واخلئ او د هغه بیان ولیکئ. بیا ماته راشئ او زه به دلته په شیلوه کې د څښتن په حضور کې ستاسو دپاره پچه واچوم.> ⑨ هغه نفر لاړل او په ټول هیواد کې وګرځېدل او دا یې ولیکل چې هغوی څنګه هغه ځمکه په اوو برخو ووېشله او د ښارګوټو لست یې جوړ کړ. بیا هغوی بېرته یوشع ته چې د شیلوه په کمپ کې ؤ راستانه شول. ⑩ بیا یوشع د هغوی دپاره په شیلوه کې د څښتن په حضور کې پچه واچوله او د اسراییلو هرې پاتې قبیلې ته یې د ځمکې یوه ټاکلې برخه ورکړه.

## د بنیامین قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

⑪ اولنی قبیله چې د پچې په اساس یې ځمکه ترلاسه کړه هغه د بنیامین قبیله وه. د هغوی د طایفو ځمکه د یهودا او یوسف د قبیلو ترمنځ پرته وه. ⑫ په شمال کې د هغوی سرحد د اردن له سیند څخه شروع شوی دی او بیا د اریحا په شمالي مخ ځوړې باندې پورته تللی او په لوېدیځ کې د غرنۍ سیمې په لار بیت آون ته نژدې دښتې ته رسېدلی دی. ⑬ بیا دا سرحد هغه مخ ځوړې ته چې د لوز (چې بیت ئیل هم بلل کیږي) جنوب خواته دی تللی دی. بیا هغه عطاروت ادار ته چې د ښکتنې بیت حورون په جنوب کې په غره باندې ؤ رسېدلی دی. ⑭ بیا دا سرحد بلې خواته تللی، د دې غره د لوېدیځې خوا څخه جنوب ته ګرځېدلی او قریت بعل (قریت یعاریم) ته وتلی دی. هغه ځای د یهودا د قبیلې دی. دا لوېدیځ سرحد ؤ. ⑮ جنوبي سرحد د قریت یعاریم له غاړې څخه شروع شوی او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د نفتوح چینو ته رسېدلی دی. ﴿۱۶﴾ بیا دا سرحد د غره بیخ ته چې د هنوم درې ته مخامخ
دی او د رفائیم د درې په شمال کې دی کوز شوی دی. له هغه ځای څخه جنوب خواته د
هنوم د درې له لارې هغې غونډۍ ته چې د اورشلیم په جنوب کې ده تللی او بیا
عین روجل ته رسېدلی دی. ﴿۱۷﴾ بیا د شمال خواته عین شمس ته ګرځېدلی او بیا د
جلیلوت خواته چې د ادومیم غاښې ته مخامخ ؤ وتلی دی. دا سرحد بیا د بوهن ګټ ته کوز
شوی دی (بوهن د روبین زوی ؤ) ﴿۱۸﴾ او د هغې غونډۍ شمال خواته تېر شوی چې د
اردن دره ورڅخه ښکاري. بیا دا سرحد درې ته کوز شوی دی، ﴿۱۹﴾ له هغه ځای څخه د
بیت حجلې د غونډۍ د شمالي خوا څخه تېر شوی او د ارام دریاب په شمال کې چېرته چې
د اردن سیند ورسره یوځای کېږي ختم شوی دی. دا جنوبي سرحد ؤ. ﴿۲۰﴾ د اردن سیند
ختیځ سرحد ؤ. دا د هغې خاورې سرحدونه وو چې د بنیامین د قبیلې طایفو د خپل ملکیت
په توګه ترلاسه کړې وه.

﴿۲۱﴾ د بنیامین د قبیلې د طایفو ښارګوټي دا وو: اریحا، بیت حجله، عیمق قصیص، ﴿۲۲﴾
بیت عربه، صمارایم، بیت ئیل، ﴿۲۳﴾ عویم، فاره، عفره، ﴿۲۴﴾ کفرعموني، عفني او جبع – د
شاوخوا کلیو سره دولس ښارګوټي. ﴿۲۵﴾ جبعون، رامه، بیروت، ﴿۲۶﴾ مصفه، کفیره، موصه،
﴿۲۷﴾ راقم، یرفئیل، تراله، ﴿۲۸﴾ صیله، آلف، یبوسي ښار (اورشلیم)، جبعه او قریت یعاریم –
د شاوخوا کلیو سره څوارلس ښارګوټي. دا هغه ځمکه وه چې د بنیامین د قبیلې طایفو د
خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړې وه.

## د شمعون قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

**۱۹** ﴿۱﴾ دوهمه پچه د شمعون د قبیلې د طایفو په نوم ووتله. د هغوی سیمه د یهودا په
ځمکه کې پرته وه. ﴿۲﴾ په هغې کې دا ځایونه شامل وو: بئرشبع (شبع)، مولاده، ﴿۳﴾
حزر شوعال، بالح، عاصم، ﴿۴﴾ التولد، بتول، حرما، ﴿۵﴾ صقلغ، بیت مرکبوت، حزر سوسه،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۶) بیت لباعوت او شاروحن – د شاوخوا کلیو سره دیارلس ښارګوټي.

(۷) عین، رمون، عاتر او عاشان – د شاوخوا کلیو سره څلور ښارګوټي. (۸) په دې سیمه کې په جنوب کې تر بعلت بئیر (جنوبي رامه) پورې ټول ښارګوټي او کلي شامل وو. دا هغه ځمکه وه چې د شمعون د قبیلې طایفو د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه. (۹) څرنګه چې د یهودا برخه د هغوی د اړتیا له اندازې څخه زیاته وه، نو د هغه د سیمې یوه برخه د شمعون قبیلې ته ورکړل شوه.

## د زبولون قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

(۱۰) دریمه پچه د زبولون د قبیلې د طایفو په نوم ووتله. هغه ځمکه چې هغوی ترلاسه کړه د سارید پورې رسېدله. (۱۱) دا سرحد له هغه ځای څخه په لوېدیځه خوا کې مرعله ته تللی او د دباشه پورې رسېدلی او یقنعام ته نژدې ویالې ته تللی دی. (۱۲) دا سرحد د سارید ختیځې خواته د کسلوت تابور د سیمې پولې ته ګرځېدلی او دابره ته راوتلی او پورته تر یافیع پورې رسېدلی دی. (۱۳) بیا دا سرحد د ختیځ په لورې جت حافر او عت قاصین ته تللی، رمون ته راوتلی او د نیعه په لورې ګرځېدلی دی. (۱۴) په شمال کې دا سرحد د حناتون په لورې ګرځېدلی او د یفتحئیل په دره کې ختم شوی دی. (۱۵) زبولون د شاوخوا کلیو سره دولس ښارګوټي درلودل. د هغو څخه ځینې یې دا وو: قطه، نهلال، شمرون، یداله او بیت لحم. (۱۶) دا ښارګوټي او د هغو کلي په هغې ځمکه کې وو چې د زبولون د قبیلې طایفو د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه.

## د یساکار قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

(۱۷) څلورمه پچه د یساکار د قبیلې د طایفو په نوم ووتله. (۱۸) د هغوی په سیمه کې دا ځایونه شامل وو: یزرعیل، کسلوت، شونم، (۱۹) حفارایم، شیئون، اناحره، (۲۰) ربیت،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قشیون، آبص، ﴿۲۱﴾ رمه، عین جنیم، عین حده او بیت فسیس. ﴿۲۲﴾ او دا سرحد د تابور غره، شحصیمه او بیت شمس ته رسېدلی او د اردن د سیند سره ختم شوی دی. په هغه کې شپاړس ښارګوټي د هغو د شاوخوا کلیو سره شامل وو. ﴿۲۳﴾ دا ښارګوټي او د هغو کلي په هغې ځمکه کې وو چې د یساکار د قبیلې طایفو د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه.

## د اشیر قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

﴿۲۴﴾ پنځمه پچه د اشیر د قبیلې د طایفو په نوم ووتله. ﴿۲۵﴾ د هغوی په سیمه کې دا ځایونه شامل وو: حلقات، حلي، باطن، اکشاف، ﴿۲۶﴾ الملک، عمعاد او مشال. په لوېدیځ کې دا سرحد کرمل او شیحور لبنه ته رسېده. ﴿۲۷﴾ بیا له هغه ځای ختځه ختیځې خواته بیت داجون ته ګرځېدلی، د زبولون او د یفتحئیل تر درې پورې رسېدلی دی او په شمال کې بیت عامق او نعیئیل ته راوتلی دی. دا سرحد د شمال په لورې کابول، ﴿۲۸﴾ عبرون، رحوب، حمون، قانه او تر لوی صیدون پورې غزېدلی دی. ﴿۲۹﴾ دا سرحد بیا رامه ته ګرځېدلی او د صور قوي دېوال لرونکي ښار ته رسېده. بیا هغه حوسه ته ګرځېدلی او د مدیترانې په بحیره کې ختم شوی دی. په دې سیمه کې محالاب، اکزیب، ﴿۳۰﴾ عمه، عفیق او رحوب شامل وو. د شاوخوا کلیو سره دوه ویشت ښارګوټي وو. ﴿۳۱﴾ دا ښارګوټي او د هغو کلي په هغې ځمکه کې وو چې د اشیر د قبیلې طایفو د خپل ملکیت په توګه ترلاسه کړه.

## د نفتالي قبیلې ته ورکړل شوې ځمکه

﴿۳۲﴾ شپږمه پچه د نفتالي د قبیلې د طایفو په نوم ووتله: ﴿۳۳﴾ د هغوی سرحد د حالف او په صعنیم کې د خېړې د ونې ځخه تېر شوی او د ادامي ناقب او یبنئیل ځخه تر لقوم پورې رسېده او د اردن د سیند سره ختم شوی ؤ. ﴿۳۴﴾ په هغه ځای کې دا سرحد لوېدیځې خواته د ازنوت تابور په لور ګرځېدلی او په حقوق کې راوتلی دی. هغه په جنوب کې د زبولون



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سيمې ته، په لوېديځ کې د اشير سيمې ته او په ختيځ کې د اردن سيند ته رسېدلی دی. ۳۵
هغه قوي دېوال لرونکي ښارګوټي دا وو: صديم، صير، حمت، رقت، کنارت، ۳۶ ادامه، رامه، حاصور، ۳۷ قادش، ادرعي، عين حاصور، ۳۸ يرون، مجدلئيل، حوريم، بيت عنات او بيت شمس. د شاوخوا کليو سره نولس ښارګوټي وو. ۳۹ دا ښارګوټي او د هغو کلي په هغې ځمکه کې وو چې د نفتالي د قبيلې طايفو د خپل ملکيت په توګه ترلاسه کړه.

## د دان قبيلې ته ورکړل شوې ځمکه

۴۰ اوومه پچه د دان د قبيلې د طايفو په نوم ووتله. ۴۱ د هغوی په سيمه کې دا ځايونه شامل وو: زرعه، اشتاول، عير شمس، ۴۲ شعلبين، ايالون، يتله، ۴۳ ايلون، تمنه، عقرون، ۴۴ التقي، جبتون، بعله، ۴۵ يهود، بني برق، جت رمون، ۴۶ مياه يرقون او رقون د هغې سيمې سره چې يافا ته مخامخ وه.

۴۷-۴۸ د دان طايفو دا خاوره او دا ښارګوټي د هغو د شاوخوا کليو سره د خپل ملکيت په توګه ترلاسه کړل. څه موده وروسته کله چې دښمنانو هغوی مجبور کړل چې خپله قبيلوي خاوره پرېږدي، نو هغوی د لشم ښارګوټي ته لاړل. په ښارګوټي باندې يې حمله وکړه، هغه يې ونيوه او د هغه ځای اوسېدونکي يې ووژل. بيا هغوی خپله هلته ځای په ځای شول، د هغه ښارګوټي نوم يې بدل کړ او د خپل نيکه دان په نوم يې ياد کړ.

## د يوشع ځمکه

۴۹ کله چې د اسراييلو قوم د ځمکې د وېشلو څخه وزګار شو، هغوی د نون زوی يوشع ته د ځمکې يوه برخه ورکړه چې د هغه شي. ۵۰ څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، هغوی يوشع ته هغه ښارګوټی ورکړ چې هغه غوښتی ؤ، يعنې تمنه سارح چې د افرايم په غرنۍ سيمه کې ؤ. هغه دا ښارګوټی بيا ودان کړ او هلته ځای په ځای شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۱ دا هغه سیمې وې چې العازار کاهن، یوشع او د اسراییلو د قبیلو د طایفو مشرانو په
شیلوه کې د پچې په اساس ووېشلې. هغوی دا کار د څښتن په حضور کې د مقدسې خیمې
په دروازه کې وکړ. په دې ډول هغوی د ځمکې وېش سرته ورساوه.

## د پناه اخیستلو ښارونه

(شمېر ۳۵: ۹ – ۳۴ او تثنیه ۱۹: ۱ – ۱۳)

**۲۰** ۱ بیا څښتن یوشع ته وویل ۲ چې د اسراییلو قوم ته ووایه: >د پناه اخیستلو
ښارونه چې د هغو په باره کې مې د موسیٰ په وسیله تاسو ته ویلي وو وټاکئ. ۳ نو
هرڅوک چې په سهوې سره یو سړی ووژني، کولی شي هلته لاړ شي او د وژل شوي نفر د
خپلوانو څخه وتښتي او خوندي پاتې شي. ۴ هغه کولی شي د دې ښارونو له جملې
څخه یو ښار ته وتښتي، د ښار دروازې ته چې د قضاوت ځای دی ورشي او مشرانو ته دې
د پېښې په هکله بیان ورکړي. بیا به هغوی هغه نفر ته اجازه ورکړي چې ښار ته ورداخل
شي او هغه ته د اوسېدلو دپاره ځای ورکړي، ترڅو وکولی شي هلته پاتې شي. ۵ که
چېرې بدل اخیستونکی هغه تعقیب کړي، نو د هغه ښار خلک باید په قتل باندې تورن نفر
هغه ته په لاس ورنه کړي. هغوی باید د هغه ساتنه وکړي ځکه هغه نفر یې په سهوې سره
وژلی دی او مخکې یې ورسره کومه دښمني نه درلوده. ۶ هغه به په دې ښار کې تر هغه
وخته پورې پاتې کېږي ترڅو په علني محاکمه کې بې ګناه ثابت شي او تر هغې پورې چې
مشر کاهن مړ شي. بیا هغه کولی شي چې بېرته خپل کور او خپل ښارګوټي ته یعنې له کوم
ځای څخه چې هغه راتښتېدلی وي لاړ شي.<

۷ نو د اسراییلو قوم د جلیل قادش چې د نفتالي په غرنۍ سیمه کې ؤ بېل کړ، شکیم یې
د افرایم په غرنۍ سیمه کې او قریت اربع (حبرون) یې د یهودا په غرنۍ سیمه کې بېل کړ.
۸ د اردن د سیند په ختیځ کې د دښتې په لوړه جلګه باندې چې د اریحا ختیځې خواته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه هغوی باصر وټاکه چې د روبین په سیمه کې ؤ، راموت یې په جلعاد کې چې د جاد په سیمه کې پروت ؤ وټاکه او جولان یې په باشان کې چې د منسي په سیمه کې پروت ؤ وټاکه. (٩) دا د پناه اخیستلو هغه ښارونه وو چې د اسراییلو د ټول قوم دپاره او د هغو بېګانه خلکو دپاره چې د هغوی په منځ کې اوسېدل وټاکل شول. هرڅا چې به په سهوې سره بل نفر واژه، هغه به د بدل اخیستونکي څخه هلته ساتنه ترلاسه کولی شوه. که چېرې هغه نفر اول د غونډې په مخکې نه ؤ ملامت شوی هغه یې نه شو وژلی.

## د لاویانو دپاره ښارګوټي

(١)-(٢) د لاویانو د کورنیو مشران العازار کاهن، د نون زوی یوشع او د اسراییلو د نورو قبیلو د کورنیو مشرانو ته شیلوه ته چې په کنعان کې وه ورغلل او هغوی ته یې وویل: <څښتن د موسیٰ په وسیله په تاسو باندې امر کړی دی چې مونږ ته د اوسېدلو دپاره ښارګوټي او زمونږ د څارویو دپاره څرځایونه راکړئ.> (٣) نو څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، د اسراییلو قوم لاویانو ته د خپلو سیمو څخه ځینې ښارګوټي او څرځایونه ورکړل.

(٤) اولنی پچه د قهاتیانو د طایفو په نوم ووتله. هغو لاویانو ته چې د هارون کاهن له اولادې څخه وو هغوی ته د یهودا، شمعون او بنیامین د سیمو څخه دیارلس ښارګوټي ورکړل شول. (٥) د افرایم، دان او لوېدیځې منسي د سیمو څخه لس ښارګوټي د قهات پاتې اولادې ته ورکړل شول.

(٦) د یساکار، اشیر، نفتالي او په باشان کې د ختیځې منسي د سیمو څخه د جرشون اولادې ته دیارلس ښارګوټي ورکړل شول.

(٧) د مراري د اولادې طایفو د روبین، جاد او زبولون د سیمو څخه دولس ښارګوټي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترلاسه کړل.

(۸) نو لکه څنګه چې څښتن د موسیٰ په وسیله امر کړی ؤ، د اسراییلو قوم د پچې په اساس لاویانو ته دا ښارګوټي د ځړځایونو سره ورکړل.

(۹)-(۱۰) دا د یهودا او شمعون د سیمو د هغو ښارګوټو نومونه دي کوم چې د هارون اولادې ته ورکړل شول (د هارون هغه اولاده چې د لاویانو د قهاتیانو د طایفو څخه وه). اولنی پچه د هغوی په نوم ووتله. (۱۱) هغوی ته یې د یهودا په غرنی سیمه کې قریت اربع (حبرون) د شاوخوا ځړځایونو سره ورکړه (اربع د عناق پلار ؤ). (۱۲) خو هغوی د ښار شاوخوا پټي او کلي پخوا د یفنه زوی کالیب ته د هغه د ملکیت په توګه ورکړي وو.

(۱۳) نو هغوی د هارون کاهن اولادې ته دا لاندې ښارګوټي ورکړل: حبرون (چې په قتل باندې تورن شوي نفر دپاره د پناه اخیستلو ښار ؤ)، لبنه، (۱۴) یتیر، اشتموع، (۱۵) حولون، دبیر، (۱۶) عین، یوطه او بیت شمس د هغو د ځړځایونو سره – د یهودا او شمعون د قبیلو څخه نهه ښارګوټي. (۱۷) د بنیامین د سیمې څخه یې هغوی ته جبعون، جبع، (۱۸) عناتوت او علمون د هغو د ځړځایونو سره ورکړل. دا څلور ښارګوټي وو. (۱۹) د کاهنانو یعنې د هارون د اولادې دپاره د ځړځایونو سره ټول دیارلس ښارګوټي ورکړل شول.

(۲۰) د لاویانو د قهاتیانو پاتې طایفو ته د افرایم د سیمې څخه یو څو ښارګوټي ورکړل شول. (۲۱) هغوی ته د افرایم په غرنی سیمه کې دا څلور ښارګوټي ورکړل شول: شکیم (چې په قتل باندې تورن شوي نفر دپاره د پناه اخیستلو ښار ؤ)، جازر، (۲۲) قبصایم او بیت حورون د هغو د ځړځایونو سره. (۲۳) همدارنګه هغوی د دان د سیمې څخه دا څلور ښارګوټي ترلاسه کړل: التقي، جبتون، (۲۴) ایالون او جت رمون د هغو د ځړځایونو سره. (۲۵) هغوی د لوېدیځې نیمې منسي د سیمې څخه دوه ښارګوټي ترلاسه کړل: تعنک او جت رمون د هغو د ځړځایونو سره. (۲۶) دا ټول لس ښارګوټي د هغو د ځړځایونو سره د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قهاتيانو پاتې طايفو ته ورکړل شول.

(۲۷) د لاويانو د جرشونيانو طايفو ته لاندينې ښارګوټي ورکړل شول: د ختيځې نيمې منسي د سيمې څخه جولان چې په باشان کې ؤ (چې په قتل باندې تورن شوي نفر دپاره د پناه اخيستلو ښار ؤ) او بعشتره د هغو د څړځايونو سره - دوه ښارګوټي. (۲۸) د يساکار له سيمې څخه قشيون، دابره، (۲۹) يرموت او عين جنيم د هغو د څړځايونو سره - څلور ښارګوټي. (۳۰) د اشير له سيمې څخه مشال، عبدون، (۳۱) حلقات او رحوب د هغو د څړځايونو سره - څلور ښارګوټي. (۳۲) د نفتالي له سيمې څخه قادش په جليل کې (چې په قتل باندې تورن شوي نفر دپاره د پناه اخيستلو ښار ؤ)، حموت دور او قرتان د هغو د څړځايونو سره - درې ښارګوټي. (۳۳) د جرشونيانو د طايفو ټول ښارګوټي د هغو د څړځايونو سره ديارلسو ته رسېدل.

(۳۴) د مراريانو طايفو (پاتې لاويانو) ته لاندينې ښارګوټي ورکړل شول: د زبولون د سيمې څخه يقنعام، قرته، (۳۵) دمنه او نحلال د هغو د څړځايونو سره - څلور ښارګوټي. (۳۶) د روبين له سيمې څخه باصر، ياهص، (۳۷) قديموت او ميفاعت د هغو د څړځايونو سره - څلور ښارګوټي. (۳۸) د جاد له سيمې څخه راموت په جلعاد کې (چې په قتل باندې تورن شوي نفر دپاره د پناه اخيستلو ښار ؤ)، محنايم، (۳۹) حشبون او يعزير د هغو د څړځايونو سره - ټول څلور ښارګوټي. (۴۰) د ټولو ښارګوټو شمېر چې د مراريانو طايفو يعنې پاتې لاويانو ته ورکړل شول دولسو ته رسېده.

(۴۱)-(۴۲) له هغې ځمکې څخه چې د اسراييلو خلکو ترلاسه کړې وه ټول اته څلوېښت ښارګوټي د هغو د شاوخوا څړځايونو سره لاويانو ته ورکړل شول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په وعده شوې ځمکه کې د اسراییلو ځای په ځای کېدل

(۴۳) نو څښتن اسراییلو ته هغه ټوله ځمکه ورکړه چې د هغوی د نیکونو سره یې کلکه
وعده کړې وه. هغوی د دې ځمکې ملکیت ترلاسه کړ او هلته ځای په ځای شول. (۴۴)
لکه څنګه چې څښتن د هغوی د نیکونو سره وعده کړې وه، هغه د هغوی په ټوله خاوره کې
ارامي راوستله. د هغوی یو دښمن هم نه شو کولی چې د هغوی په مقابل کې ودرېږي، ځکه
چې څښتن اسراییلیانو ته په خپلو ټولو دښمنانو باندې برې ورکړی ؤ. (۴۵) څښتن چې
کومې وعدې د اسراییلو د قوم سره کړې وې، هغه ټولې یې سرته ورسولې.

## د ختیځو قبیلو خپلو کورونو ته ستنېدنه

۲۲ (۱) بیا یوشع د روبین، جاد او ختیځې منسي د قبیلو خلک راوغوښتل. (۲) یوشع
هغوی ته وویل: <تاسو هغه ټول کارونه کړي دي چې د څښتن خدمتګار موسیٰ درته حکم
کړی ؤ او زما ټولو امرونو ته مو غاړه اېښې ده. (۳) که څه هم جنګ زیات اوږد شو خو
تاسو په دې موده کې خپل اسراییلي ورونه پرېښودلي نه دي او کومه دنده چې ستاسو
څښتن خدای تاسو ته سپارلې وه هغه مو سرته رسولې ده. (۴) اوس ستاسو څښتن خدای
د خپلې وعدې سره سم ستاسو ورونو ته ارامي ورکړې ده. نو بېرته خپلو کورونو یعنې هغې
ځمکې ته لاړ شئ چې د اردن د سیند په ختیځ کې ده او د څښتن خدمتګار موسیٰ تاسو ته
درکړې ده. (۵) تاسو په غور سره د هغو ټولو شیانو څخه اطاعت کوئ چې موسیٰ په
تاسو باندې امر کړی دی: د خپل څښتن خدای سره مینه کوئ او د هغه رضا پوره کوئ. د
هغه امرونو ته غاړه ږدئ، هغه ته وفادار اوسئ او د زړه له کومې او په خپل ټول توان سره د
هغه خدمت کوئ.> (۶)-(۸) یوشع هغوی ته برکت ورکړ او په دې خبرو سره یې خپلو
کورونو ته ولېږل: <تاسو د ډېرې شتمنۍ، زیاتو څارویو، سپینو زرو، سرو زرو، برنجو،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسپنو او ډېرو کالیو سره بېرته خپلو کورونو ته ځئ. تاسو چې کوم شیان له خپلو دښمنانو
څخه نیولي دي هغه د خپلو قبیلو د خلکو سره ووېشئ.> بیا هغوی خپلو کورونو ته روان
شول.

موسیٰ د منسي نیمې قبیلې ته د اردن د سیند ختیځې خواته په باشان کې ځمکه ورکړه، خو
بلې نیمايي ته یوشع د اردن د سیند په لوېدیځ کې د نورو قبیلو په څنګ کې ځمکه ورکړه.

۹ نو د روبین او جاد د قبیلو او د ختیځې منسي د قبیلې خلک بېرته خپلو کورونو ته
لاړل. هغوی د اسراییلو پاتې خلک په شیلوه کې چې په کنعان کې وه پرېښودل او خپلې
خاورې ته چې د جلعاد خاوره وه لاړل. دا خاوره هغوی د څښتن د امر سره سم چې د
موسیٰ په وسیله یې کړې ؤ نیولې وه.

## د اردن د سیند په غاړه د قربانۍ ځای

۱۰-۱۱ کله چې د روبین، جاد او ختیځې منسي قبیلې د اردن د درې لوېدیځې غاړې ته
ورسېدلې نو د سیند په غاړه یې یوه ډېره لویه قربانګاه جوړه کړه. کله چې نورو اسراییلیانو
واورېدل چې دې قبیلو څه کړي دي، ۱۲ نو د لوېدیځو قبیلو ټول خلک په شیلوه کې
سره راغونډ شول چې لاړ شي او د ختیځو قبیلو سره وجنګیږي.

۱۳ نو د اسراییلو خلکو د العازار کاهن زوی فینحاس د جلعاد خاورې ته د روبین، جاد
او د ختیځې منسي قبیلو ته ولېږه. ۱۴ نو د فینحاس سره لس مشران لاړل، د هرې
لوېدیځې قبیلې څخه یو یو نفر یعنې د هغوی د کورنیو د مشرانو څخه یو یو نفر. ۱۵ کله
چې هغوی د جلعاد خاورې ته د روبین، جاد او ختیځې منسي خلکو ته ورغلل، ۱۶
هغوی وویل: <مونږ د څښتن د ټول قوم له خوا خبرې کوو: تاسو ولې د اسراییلو د څښتن
خدای په مقابل کې داسې بد کار کړی دی؟ تاسو د خپلو ځانونو دپاره د دې قربانګاه په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړولو سره د هغه په مقابل کې سرکشي کړې ده! تاسو نور د هغه پیروان نه یاست. ﴿۱۷﴾
په فغور کې زمونږ ګناه درپه یاده کړئ. آیا زمونږ دپاره هغه بس نه وه؟ سره له دې چې د
څښتن په قوم باندې وبا نازله شوه، خو تر نن ورځې پورې مونږ د هغې ګناه څخه خپل
ځانونه پاک کړي نه دي. ﴿۱۸﴾ آیا تاسو اوس غواړئ چې د څښتن د پیروی څخه انکار
وکړئ؟ که چېرې تاسو نن د څښتن په مقابل کې سرکشي وکړئ، سبا به هغه د اسراییلو په
ټول قوم باندې په قهر شي. ﴿۱۹﴾ خو که چېرې ستاسو خاوره د عبادت دپاره مناسبه نه
وي، نو د څښتن ځمکې ته راشئ چې د هغه مقدسه خېمه په کې ولاړه ده او زمونږ په منځ
کې ځمکه واخلئ. مګر د څښتن په مقابل کې سرکشي مه کوئ او زمونږ د څښتن خدای په
قربانګاه سربېره د بلې قربانګاه په جوړولو سره مونږ مه ګناهکاروئ. ﴿۲۰﴾ آیا هغه څه چې
د عخان سره وشول هغه مو په یاد دي؟ څښتن مونږ ته ویلي وو: د اریحا د ښار ټول شیان
له منځه یوسئ، خو عخان د څښتن د امر څخه سرغړونه وکړه او څښتن مونږ ټولو ته سزا
راکړه. عخان د خپلو کړو له کبله مړ شو او نور ډېر اسراییلیان هم د عخان د ګناه له کبله مړه
شول.>

﴿۲۱﴾ د روبین، جاد او ختیځې منسي د قبیلو خلکو د لوېدیځو قبیلو استازو ته په ځواب
کې وویل: ﴿۲۲﴾ <څښتن یوازینی قوي خدای دی! مونږ د هغه څخه غوښتنه کوو چې
زمونږ شاهد اوسي! هغه پوهېږي چې مونږ ولې داسې کار کړی دی او مونږ غواړو چې تاسو
هم ورباندې پوه شئ! که چېرې مونږ د څښتن په مقابل کې سرکشي کړې وي او د هغه سره
مو خپل لوظ مات کړی وي، نو څښتن دې نور مونږ ژوندي نه پرېږدي. ﴿۲۳﴾ که چېرې
مونږ د څښتن څخه پیروي کول پرې ایښې وي او خپله قربانګاه مو جوړه کړې وي چې په
هغې باندې سوزېدونکې نذرانې یا د غلو دانو یا د سلامتی نذرانې وړاندې کړو، نو پرېږدئ
چې څښتن په خپله مونږ ته سزا راکړي. ﴿۲۴﴾ نه! مونږ د دې وېرې له کبله دا کار وکړ چې
کېدای شي یوه ورځ ستاسو اولاده زمونږ اولادې ته ووایې چې تاسو څه حق لرئ چې د
اسراییلو د څښتن خدای عبادت کوئ؟ ﴿۲۵﴾ څښتن د اردن له سیند څخه زمونږ او ستاسو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يعني د روبين او جاد د خلکو ترمنځ يو سرحد جوړ کړ. تاسو د څښتن سره هيڅ کار نه
لرئ. بيا کېداى شي چې ستاسو اولاده زمونږ اولاده د څښتن د عبادت څخه منع کړي. (۲۶)
نو مونږ د قربانۍ د ځاى د جوړولو پرېکړه وکړه، نه د سوزېدونکو نذرانو دپاره او نه د
قربانيو دپاره، (۲۷) بلکه دا به زمونږ او ستاسو د خلکو دپاره او زمونږ څخه وروسته
نسلونو دپاره يوه نښه وي چې مونږ به د څښتن د مقدسې خېمې په مخ کې د سوزېدونکو
نذرانو، قربانيو او سلامتۍ د نذرانو په وړاندې کولو سره د هغه عبادت کوو. بيا به په
راتلونکي کې ستاسو اولاده نه شي کولى چې زمونږ اولادې ته داسې ووايي چې تاسو د
څښتن عبادت نه شئ کولى. (۲۸) مونږ فکر کاوه چې که چېرې داسې وشي، امکان لري
چې زمونږ اولاده ووايي چې ګورئ! زمونږ نيکونو د څښتن د قربانۍ د ځاى په شان يوه
نمونه جوړه کړه. دا د سوزېدونکو نذرانو يا د قربانيو دپاره نه، بلکه هغه يې د دې دپاره
جوړه کړې ده چې دا وښايي چې مونږ هم ستاسو په شان د څښتن خلک يو. (۲۹) مونږ به
په يقين سره د څښتن په مقابل کې سرکشي ونه کړو او نه به د قربانۍ د ځاى په جوړولو
سره چې په هغه باندې نذرانې يا قربانۍ وړاندې کړو، د هغه پيروي کول پرېږدو. مونږ به بله
داسې قربانګاه جوړه نه کړو چې زمونږ د څښتن خداى د قربانګاه ځاى ونيسي کومه چې د
هغه د مقدسې خېمې په مخ کې ده.>

(۳۰) فينحاس کاهن او د لوېديځو قبيلو لسو مشرانو چې د هغه سره وو د روبين، جاد او
ختيځې منسې د قبيلو د خلکو خبرې واورېدې او هغوى قانع شول. (۳۱) فينحاس هغوى
ته وويل: <اوس مونږ په دې پوه شو چې څښتن زمونږ سره مل دى. تاسو د هغه په مقابل
کې سرکشي نه ده کړې بلکه د اسراييلو قوم مو د څښتن د سزا څخه ژغورلى دى.>

(۳۲) بيا فينحاس او د لوېديځو قبيلو مشران بېرته د کنعان خاورې ته راستانه شول او څه
چې پېښ شوي وو هغه يې د اسراييلو خلکو ته بيان کړل. (۳۳) اسراييليان قانع شول او د
خداى ستاينه يې وکړه. هغوى نور داسې خبرې نه کولې چې د روبين او جاد د خلکو سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګ وکړي او د هغوی خاوره له منځه یوسي.

۳۴ د روبین او جاد خلکو وویل: <دا قربانګاه زمونږ د ټولو ترمنځ شاهده ده چې څښتن
زمونږ خدای دی.> نو هغه قربانګاه یې د شاهد په نوم یاده کړه.

## اسراییلو ته د یوشع اخرنۍ خبرې

۲۳ ۱ وروسته له اوږدې مودې څښتن اسراییلو ته د شاوخوا ټولو دښمنانو څخه
ارامي ورکړه. په دې وخت کې یوشع ډېر زوړ شوی ؤ. ۲ هغه ټول اسراییلیان یعنې د
هغوی سپین ږیري، مشران، قاضیان او ماموران راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: <زه اوس
ډېر زوړ شوی یم. ۳ تاسو ولیدل چې ستاسو څښتن خدای ستاسو په خاطر په دې ټولو
قومونو باندې څه وکړل. هغه په خپله ستاسو دپاره جګړه وکړه. ۴ ما ستاسو قبیلو ته
ټوله ځمکه په ختیځ کې د اردن له سیند څخه په لوېدیځ کې د مدیترانې تر بحیرې پورې
ورکړه. ما تاسو ته د هغو ټولو قومونو ځمکه چې مخکې مونږ فتح کړې وه درکړې ده او
همدارنګه د هغو قومونو ځمکه چې تر اوسه پورې لا مونږ فتح کړې نه ده. ۵ ستاسو
څښتن خدای به هغوی ستاسو په مقابل کې په شا تګ ته مجبور کړي او څنګه چې تاسو
مخکې ځئ هغوی به وشړي. لکه څنګه چې هغه ستاسو سره وعده کړې ده، تاسو به د
هغوی ځمکه ونیسئ. ۶ تاسو قوي اوسئ او هرڅه چې د موسیٰ په تورات کې لیکل
شوي دي، هغو ته په غور سره غاړه کېږدئ او هغه سرته ورسوئ. د هغو یوه برخه هم له
نظره مه غورزوئ. ۷ پام کوئ د هغو قومونو سره چې ستاسو په منځ کې پاتې دي
ملګرتیا ونه کړئ او د هغوی خدایانو ته عبادت مه کوئ. هغوی ته دعا مه کوئ او په قسم
خوړلو کې د هغوی نومونه مه اخلئ. ۸ د هغې په ځای، د خپل څښتن خدای سره
وفاداره اوسئ لکه څنګه چې تر اوسه پورې ورسره وفاداره یئ. ۹ څښتن لوی او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قدرتمند قومونه ستاسو له مخې څخه لېرې کړې دي او تر نن ورځې پورې هيڅوک دا توان نه
دی موندلی چې ستاسو په مقابل کې ودرېږي. ﴿۱۰﴾ ستاسو څخه هر يو کولی شي چې د
دښمن زرو تنو ته ماتې ورکړي، ځکه چې ستاسو څښتن خدای د خپلې وعدې سره سم
ستاسو دپاره جګړه کوي. ﴿۱۱﴾ بيا زيات متوجه اوسئ چې د خپل څښتن خدای سره مينه
وکړئ. ﴿۱۲﴾ که چېرې تاسو بې وفايي وکړئ او د هغو قومونو سره يوځای شئ چې تر
اوسه پورې ستاسو په منځ کې پاتې دي او د هغوی سره ودونه وکړئ، ﴿۱۳﴾ نو بيا باور
ولرئ چې څښتن خدای به نور دا قومونه ستاسو له مخې څخه لېرې نه کړي. بلکه هغوی به
ستاسو دپاره د دام يا د لومې په شان خطرناک شي او ستاسو د شاګانو دپاره به د قمچينې په
شان شي او ستاسو په سترګو کې به د اغزيو په شان شي. او دا به تر هغه وخته پورې دوام
ومومي ترڅو ستاسو څخه هيڅوک په دې ښې ځمکه کې چې خپل څښتن خدای درته
درکړې ده پاتې نه شي.

﴿۱۴﴾ اوس زما د مړينې وخت رارسېدلی دی. تاسو هر يو په خپل زړه کې پوهېږئ چې
ستاسو څښتن خدای تاسو ته هغه ټول ښه شيان درکړي دي د کومو وعده يې چې کړې وه.
هره وعده چې هغه کړې ده، هغه پوره شوې ده او يوه وعده يې هم ماته شوې نه ده. ﴿۱۵﴾
خو لکه څنګه چې زمونږ څښتن خدای ستاسو سره د ټولو ښو شيانو وعده کړې ده او هغه
يې سرته رسولې ده، نو هماغسې هغه به په تاسو باندې ټولې بدۍ هم راولي ترڅو تاسو له
دې ښې ځمکې څخه چې هغه تاسو ته درکړې ده ورک کړي. ﴿۱۶﴾ که چېرې تاسو هغه
لوظ مات کړئ چې د هغه امر يې په تاسو باندې کړی دی او د نورو خدايانو خدمت او
عبادت وکړئ، بيا به هغه په قهر شي او تاسو ته به سزا درکړي او تاسو به ژر له هغې ځمکې
څخه ورک شئ کومه چې زمونږ څښتن خدای تاسو ته درکړې ده.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شکیم په ښار کې د لوظ نوی کول

**۲۴** ۱ یوشع په شکیم کې د اسراییلو ټولې قبیلې راغونډې کړې. هغه د اسراییلو
سپین ږیري، مشران، قاضیان او ماموران راوغوښتل. هغوی راغلل او د خدای په حضور کې
ودرېدل. ۲ یوشع ټول قوم ته وویل: <د اسراییلو ښښتن خدای داسې وایي: ډېره موده
مخکې ستاسو نیکونه چې په هغو کې د ابراهیم او د ناحور پلار یعنې تارح شامل ؤ د فرات
د سیند په بلې غاړې باندې اوسېدل او د نورو خدایانو عبادت به یې کاوه. ۳ بیا ما
ستاسو نیکه ابراهیم د هغه ځای څخه یووړ او د کنعان په ټوله خاوره کې مې وګرځاوه. هغه
ته مې اسحاق ورکړ او د اسحاق په وسیله مې هغه ته ډېره اولاده ورکړه. ۴ اسحاق ته
مې دوه زامن ورکړل یعنې یعقوب او عیسو. عیسو ته مې د ادوم غرنۍ سیمه د هغه د ملکیت
په توګه ورکړه، خو ستاسو نیکه یعقوب او د هغه اولادونه مصر ته لاړل. ۵-۶ وروسته
ما موسیٰ او د هغه ورور هارون ولېږل چې ستاسو د خلکو سره مرسته وکړي او په مصریانو
باندې مې لوی عذاب نازل کړ. ما ستاسو نیکونه د مصر څخه راوویستل، خو مصریان په
خپلو جنګي ګاډیو او اسونو باندې سپاره شول او ستاسو په نیکونو پسې شول او په هغوی
پسې سرې بحیرې ته وروړسېدل. ۷ هغوی ماته د مرستې دپاره فریاد وکړ او ما د هغوی
او مصریانو ترمنځ تیاره رامنځته کړه. په مصریانو باندې مې اوبه راوستلې او هغوی مې په
دریاب کې غرق کړل. تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې ما په مصر باندې څه وکړل.

له هغې وروسته تاسو ډېره موده په دښته کې اوسېدلئ. ۸ بیا مې تاسو هغې خاورې ته
راوستلئ چې د اردن د سیند په ختیځ کې وه. هلته اموریان اوسېدل او هغوی ستاسو سره
جګړه وکړه، خو تاسو زما په مرسته هغوی ته ماتې ورکړه، هغوی مو له منځه یوړل او د
هغوی خاوره مو ونیوله. ۹ کله چې د موآب پادشاه د صفور زوی بالاق ستاسو په مقابل
کې ودرېد، هغه د بعور زوی بلعام راوغوښت او د هغه څخه یې وغوښتل چې په تاسو باندې
لعنت ووایي. ۱۰ خو ما د بلعام خبرو ته غوږ ونه نیوه. هغه مې مجبور کړ چې تاسو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برکت درکړي. په دې ډول مې تاسو له بالاق څخه وژغورلئ. (۱۱) بیا تاسو د اردن له سیند
څخه پورې وتلئ او اریحا ته راغلئ. د اریحا خلکو د اموریانو، فرزیانو، کنعانیانو، حیتیانو،
جرجاشیانو، حویانو او یبوسیانو په شان ستاسو سره جګړه وکړه. خو ما تاسو ته په هغوی
ټولو باندې بری درکړ. (۱۲) ستاسو دښمنان ستاسو څخه وتښتېدل، خو ستاسو د تورو،
لیندو او غشو له کبله نه. ما ستاسو په دښمنانو کې سخته وېره راپیدا کړه او هغوی وتښتېدل
لکه څنګه چې مې د هغو دوو اموریایي پاداشاهانو سره کړي وو کوم چې د اردن د سیند په
ختیځ کې اوسېدل. (۱۳) ما تاسو ته ځمکه درکړه په کومې باندې چې تاسو زیار نه ؤ
ویستلی او ښارونه مې درکړل چې هغه تاسو نه وو ودان کړي او اوس په هغو کې اوسېږئ.
د انګورو او زیتونو د باغونو څخه خواړه خورئ کوم چې تاسو کرلي نه وو.>

(۱۴) بیا یوشع وویل: <نو د څښتن څخه ووېرېږئ او په پوره وفادارۍ سره د هغه عبادت
وکړئ. هغه بتان چې ستاسو نیکونو یې په مصر او د فرات د سیند په بله غاړه باندې عبادت
کاوه لېرې ګوزار کړئ او د څښتن عبادت وکړئ. (۱۵) که چېرې تاسو د هغه عبادت کول
نه غواړئ، نو نن پرېکړه وکړئ چې د کومو خدایانو عبادت به کوئ. آیا د هغو خدایانو
عبادت به کوئ چې ستاسو نیکونو یې د فرات د سیند په بله غاړه باندې عبادت کاوه او یا
به د اموریانو د خدایانو چې تاسو اوس د هغوی په خاوره کې اوسېږئ عبادت کوئ. خو زه
به د خپلې کورنۍ سره د څښتن عبادت کوم.>

(۱۶) قوم په ځواب کې وویل: <مونږ به هیڅکله داسې ونه کړو چې څښتن پرېږدو او د
نورو خدایانو عبادت وکړو. (۱۷) دا په خپله زمونږ څښتن خدای ؤ چې مونږ یې د خپلو
نیکونو سره د مصر څخه چې په کې غلامان وو راوویستلو او مونږ هغه معجزې ولیدلې چې
هغه وښودلې. په خپل ټول سفر کې او د هغو ټولو قومونو په منځ کې چې مونږ ورڅخه
تېرېدلو هغه وساتلو. (۱۸) څښتن زمونږ له مخې څخه هغه ټول قومونه لېرې کړل چې په
دې خاوره کې اوسېدل چې په هغو کې اموریان هم شامل وو. نو مونږ به هم د څښتن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت او اطاعت کوو، ځکه چې هغه زمونږ خدای دی.>

۱۹ یوشع قوم ته وویل: <شاید تاسو د څښتن عبادت ونشئ کولی ځکه چې هغه سپېڅلی او غیرتي خدای دی. تاسو باید هغه ته پوره وفادار اوسئ. که چېرې تاسو د هغه په مقابل کې ګناه او سرکشي وکړئ نو هغه به تاسې ونه بخښي. ۲۰ که چېرې تاسو هغه پرېږدئ او د نورو قومونو د بتانو عبادت وکړئ، هغه به ستاسو په ضد شي او تاسو ته به سزا درکړي. که څه هم مخکې هغه ستاسو سره ښه ؤ، خو تاسې به له منځه یوسي.>

۲۱ قوم یوشع ته وویل: <نه! مونږ به د څښتن عبادت او اطاعت کوو.>

۲۲ یوشع هغوی ته وویل: <تاسو د خپلو ځانونو شاهدان یئ. تاسو وویل چې مونږ د څښتن عبادت او اطاعت کول غوره کړي دي.>

هغوی وویل: <هو، مونږ شاهدان یو.>

۲۳ هغه غوښتنه وکړه: <خو لکه د هغو بتانو په شان چې نور قومونه یې عبادت کوي تاسو سره هم یو څه بتان شته. هغه لېرې ګوزار کړئ او د اسراییلو د څښتن خدای سره د وفاداری لوظ وکړئ.>

۲۴ قوم یوشع ته وویل: <مونږ به یوازې د خپل څښتن خدای عبادت کوو او د هغه امرونو ته به غاړه ږدو.>

۲۵ په هغه ورځ یوشع په شکیم کې د اسراییلو د خلکو استازیتوب وکړ او د هغوی او څښتن ترمنځ یې یو تړون جوړ کړ او هغوی ته یې قوانین او اصول ورکړل چې ورځخه پیروي وکړي. ۲۶ یوشع دا خبرې د خدای د قوانینو په کتاب کې ولیکلې. بیا هغه یوه لویه تیږه واخیسته او د څښتن د عبادت په ځای کې یې د خېرې د ونې لاندې ودروله. ۲۷



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ټول قوم ته وویل: <ګورئ، دا تیږه به زمونږ شاهده وي. دې تیږې هغه ټولې خبرې
واورېدلې چې څښتن مونږ ته وکړې. نو که چېرې تاسو د خپل خدای څخه منکر شئ دا
تیږه به ستاسو په ضد شهادت ورکوي.> ۲۸ بیا یوشع قوم رخصت کړ او هر یو نفر د
خپلې برخې ځمکې ته ور ستون شو.

## د یوشع او العازار مړینه

۲۹ څه موده وروسته د څښتن خدمتګار د نون زوی یوشع د یوسلو لسو کالو په عمر مړ
شو. ۳۰ هغه یې په خپله ځمکه کې په تمنه سارح کې چې د افرایم په غرنۍ سیمه کې او
د جاعش د غره په شمال کې وه، ښخ کړ.

۳۱ ترڅو پورې چې یوشع ژوندی ؤ، د اسراییلو خلکو د څښتن عبادت او اطاعت کاوه.
حتیٰ د هغه د مړینې څخه وروسته هم ترڅو پورې چې د قوم هغه سپین ږیري ژوندي وو
کومو چې د څښتن هغه ټول کارونه په خپلو سترګو لیدلي وو چې د اسراییلو دپاره یې کړي
وو، هغوی څښتن ته وفادار پاتې شول.

۳۲ د یوسف مړی چې د اسراییلو خلکو له مصر څخه راوړی ؤ، په شکیم کې په هغې
ټوټه ځمکه کې ښخ کړای شو چې یعقوب د شکیم د ښار د بنسټ ایښودونکي حمور د
زامنو څخه د سپینو زرو په سلو سکو باندې اخیستې وه. دا ځمکه د یوسف اولادې ته په
میراث پاتې شوه.

۳۳ د هارون زوی العازار هم مړ شو او په جبعه کې چې د افرایم په غرنۍ سیمه کې یو
ښارګوټی ؤ ښخ کړای شو، دا ښارګوټی د هغه زوی فینحاس ته ورکړل شوی ؤ.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 807.700.9066 1+
د ختیځ افغانستان ۲۰۲۱ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.